د بې تاوه پاڅون ګړندی لارښود

د غریب سړي وسله

لیکوال: ډاکټر رحمت ربی زیرک یا ر، خپلواک څیړونکی، امریکا

Compact Guide for Nonviolent Resistance: Poor Man's Weapon

By: Dr. Rahmat Rabi Zirakyar, Independent Scholar, USA

zirakyar1234@yahoo.com

Saratan 1, 1390 Lmariz Hijr June 22, 2011

که د بې عدالتۍ په مهال ناپیلي وئ، د ظالم خوا به مو غوره کړې وي. که یو فیل خپله پښه د یو موږک په لکۍ ایښې وي او تاسې وایئ چې ناپیلي یاستئ، موږک به ستاسې د ناپیلتیا درناوی ونکړي. دسهیلي افریقې مشر عیسوي ملا دیسموند ټوټو

ډالـــــــــــــــــــۍ

دا رساله اروابناد عبدالغفار خان ته ډالۍ کوم چې د خپل ولس له خوا یې په باچا خان او فخرافغان درناوی شوی دی. فخر افغان هغه ستر شخصیت دی چې د خانۍ ژوند یې پریښود او د ملنګۍ لاریې ونیوله، په خپل عمل سره یې ټول افغان ته د سولې،عدالت، پرمختګ،خپلواکۍ، ساده ژوند او ولسواکۍ لاره ښووله، په ځان د خدایي خدمتګار یاني د هسک څښتن د بندګانو دخدمتګار په حیث ویاړیده، د انسان دوستۍ په رڼو اوبو یې سترګې مینځلې وې، او د ۱۹۷۹ زیږیز په د سمبر کې په افغانستان باندې د شوروي پوځونود یرغل په لومړیو ورځوکې یې په ډیرې تاریخ

دښمني وضعي کــې د ټـول افـغان لا تـراوسه روانه فــاجـعه « د روس او امـريکن جــنګ» ګـانـه. دغه خواخوږی او سترګور مشر په پيښور کی په حق ورسيد او مړی يې دهغه د سپـارښـتـني سره ســم په جلال کوټ ياني جلال ابــاد کې د ۱۹۸۹ زيـيز د جـنوری په ۸ نـيـټه خــاورو تــه وسپارل شــو. په دې ډول باچاخان بيا وښودله چې فخر افـغان دی او په خـــپلي مقـبرې سره هم ټول افــغـان راغـبرګـوي او نــړی والو ته ښــئ چي د ډيــورنډ اســتعـماري ليکه غــير قانــوني، بې اعتباره ،رټـلي او تش په نـــــامـــه ده! مـشر خو داسـي وي کـنـه! د فخر افغان دژوند او مبارزې لپاره لاندې کتابونه ولولـــئ

عبد الغفارخان باچاخان، زما ژونداو جد او جهد. خـپرندوی: دافغانستان د کلتوري ودې ټولنه (په جرمني، کولن کې). چاپځی: د دانش خپرندوی ټولني تخنيکي څانګه-پيښور، پښتونخوا،۲۰۰۸زييز= ۱۳۸۷ لمريز

Eknath Easwaran, Nonviolent Soldier of Islam: Badshah Khan, A Man to Match His Mountains. California: Nilgiri Press, 1999; Mukulika Banerjee, The Pathan Unarmed. Oxford Universit Press, 2000

مـسـتـبـد لـه څــه نـه ډاريــږي

عرب مسلمان مفکر عبد الرحمان الکواکيبی (۱۸۴۹ تر ۱۹۰۲ زييز) چی د سيد جمال الدين افغان او شيخ محمد عبده سره په مصر کی همکار و داسې ويلی وو: « مـسـتـبد له هيڅ يو علم نه ډار نه لري، خو له هغه يوه علم نه ډاريږي چې عقل ارتوي او خلک پوهـوي چی انسان څه دی او کوم حقوق لري». د الکواکيبي وينا د هغه اوښــــتون ســره اړخ لګوي چي نن سبا د عــربي نړۍ په سلطــنتونو او سلطاني ولسمشريو کې لـــيدل کـيږي

غټه خبره داده چي بې تاوه پرزنګ (بې تشد ده مباره) څرګند هدف او کوټلې ستراتيجی (ګـــام په ګام د ســړک نـقشي) ته اړتيا لري! د هر ډول پرمختګ او بدلون د راوستلو لپاره پاڅونـــوالان ياني د مسلط رژيم مخا لـــفان دمقابل اړخ د کمزوريو او زخمي کيدا پوهي ته هغومره کلکه اړتيا لري لکه د مقابل اړخ د ميسرو منابعو کره کتني ته چی يـــی لـــري. په بې تاوه (بې تـشد ده

خوځښت کې د تاوجن (قهراميز)خوځښت په شان، بايد د يوه غښتلي او ماهر ستراتيجيست مشرتابه اهميت ته کلک پام وشي،په تيره د اوسنۍ «پوه ټولني» (نالیج سوسايټي) په چاپيريال کې چی په ګړندیو معلوماتو او ګړندي بدلون چلیږي

د رسالې ډکون، هدف، او ګنيه

دا رساله دوه غټې بر خې لري: په لومړۍ برخه کې مې د بې تاوه پاڅون په تحليلی او ستراتجيک بحث رڼا اچولې ده، د بې تاوه پاڅون د فعاليت لارې مې پکې ښودلي دي، او يو شمير سپارښتني او زده کړې مې پکې خوندي کړې دي. د رسالې په دوهمه برخه کې مې په اوسنۍ بې جسمه نړۍ کی په منځني ختيز او شمالي افريقا کې روان بې تاوه پاڅون تحليل کړی دی: دلته د انقلاب په بيه، د راشي درشي (ارتباط) په تاثير، او په سلطانانو او سلطاني ولسمشرانو غږيدلی يم. د ليکنې موخه دا ده چې د ټول افغانستان مظلوم ولس ته د نسبتا ارزان او اسان پاڅون چلونه او د زورواکی (که استبداد دی او/يا نيواک) کمزوری او د زور چينې ور وښيم. د ليکنې ګنيه (فرضيه) داده: هيڅ ډول قوي دولت يا امپراتوري د ښکيل شوي ولس چغه د تل لپاره نشي ځنډی کولي؛ پاڅون بې له پا څون والانو ناشونی کاردی؛ او هيڅ ډول پاڅون بې له لږ و ډيرې قربانۍ نه نشي چليدلی

مهمه يادونه

ما د دې ليکنې د لومړۍ برخې په بشپړولو کې د درې (۳) منلو لويديزو پوهانو په دوه انګريزي ژبه کتابونو ډيره اتکا کړې ده: د دوی تحليلونو، نظريو، معلوماتو، او مثالونو زما د ليکنې د لومړۍ برخې د ملا تير جوړ کړی دی، او زه له دې امله ځان د خپلې دې ليکنې په لومړۍ برخه کې د دوی د علمي څيړنو پوروړی ګڼم. لومړی کتاب د جينی شارپ دی

Dictatorship to Democracy: A Conceptual Framework. Gene Sharp. Albert Einstein Institution, 1993

جينی شارپ، د ديکتتا توری نه ديموکراسی ته: د آزادی لپاره يوه مفکوروي طرحه. مترجم: م. رقيب. چاپځی: دانش خپرندوی موسسه، پيښور ۲۰۰۸،(۱۳۸۷لمريز). په دې ژباړل شوي

کتاب ښاغلي م. رقیب لنډه او خوږه سریزه هم لیکلې ده. ما اصل انګریزي کتاب په ۲۰۰۸ زییز کی د باچا خان د سمینار لپاره چې په جرمني کی(نومبر ۲۰۰۸) جوړ شوی و، لوستلی و. لوستونکی کولی شی چی د م. رقیب پښتو ژباړه په اینټرنیت کی ولولي. د واګېوهنې (سیاسي علومو) متقاعد پوهاند شارپ ډاکټري په سیاسي افکارو کی لاسته راوړې وه او ماسټري یې په ټولنپوهنه(سوسیولوجي) کې . دی په امریکا کی د البرټ آینشتاین د موسسې (۱۹۹۳) موسس دی او هلته د مشر څېړونکي(سینیر سکالر) په حیث کارکوي. دوهم کتاب د پیټر آکرمن او کریستوفر کریوګلر دی

Peter Ackerman and Christopher Kruegler, Strategic nonviolent conflict: The dynamics of people power in the twentieth century. With forewords by Gene Sharp .Praeger, 1994 :London and ,CT ,Westport .and Thomas C. Schelling

اکرمن او کریوګلر دواړه پوهنتوني شخصیتونه دي او په ستراتجیک مطالعو او د سولې په مطالعو کی د درنې برخې خاوندان دی

لومړۍ برخه

د بې تاوه پاڅون فکرونه او چلونه

د سهیلي افریقي یو وتلی دیني شخصیت وایي : « زه په دي اند یم چې تاریخ موږته غوښ درس راکړی دی: یو ځل چې خلکو د خپلې خپلواکۍ پریکړه کړې وي، نو بیا په نړۍ کې هیڅ شی هغوی نشي تم کولی چې خپل هدف ته ورسیږي »-- مشر عیسوی مُلا دیسموند ټو ټو

نـنـتـوځ

نومیالی روسي لیکوال، «عیسوي انارشیست» او «انارکوـ فاسیفیست» لیو تولستوی (۱۸۲۸ تر ۱۹۱۰) د بې تاوه پاڅون پلوي و. د هغه د بې تاوه پاڅون فکر د هغه په دی کتاب کی خوندی

شوی و: د خدای سلطنت پخپله په تا کی دی، لومړی چاپ جرمني، ۱۸۹۴ زيږيز

Leo Tolstoy, The Kingdom of God Is Within You. Published in Germany. 1894

مهاتما ګاندي د تولستوی د مفکوری د اغيز لاندی راغلی و. تولستوی په خپل کتاب کی له هغو ښوونو او ارشادونو نه الـهام اخيستلـی و چی په نـوي انجـيل کی « د غره په سر وعـظ» (سيرمون آن دي ماونټ) کی خونـدی شــوی وو. تولستوی دې پوښتنې ته د جواب په لټه کې و چی ديرش زره انګريزانو به څنګه دوه سوه ميليون هنديان «مطيع» کړي وي. له دغه تناسب نه تولستوی دی نتيجې ته ورسيد چی : « دا انګريزان نه وو چی هنديان يې مريان کړي وو، بلکې هنديان وو چی ځانونه يې پخپله مريان کړي وو». د اقــتباس لپــاره ولولئ

s Revolution Vindicates Gene Sharp’s Theory of Nonviolent ’Egypt“ ,John Horgan .(February 11, 2011 ,America Activism” (Scientific

د امريکی د يوه وتلی سياست پوه پوهاند جيني شارپ غټ پيغام د ادی : د استبدادونو زور د خپلو خلکو په اطاعت ولاړ دی ،خو که خلک هغه چلونه زده او استعمال کړي چی د موجو استبدادي نظام سره له توافق نه څنګه سر وغړوي، زر يا وروسته به ټولواک (مـستبد) رژيم رانسکور کړي. په بله وينا، مظلوم ولسونه د ژوند لپاره دری لاری لري: (۱) يا به سر ټيټوي او اطاعت به کوي. خو که اطاعت نشي زغملی،(۲) په وسله وال يا څون به لاس پوري کوي. خو که مستبد قدرت درنې او ځناورې وسلې ولري [لکه د ۲۰۰۱ له اکتوبر راهيسی د امريکې وسلې په يرغل شوي افغانستان کې]، نو بيا به مظلوم ولس (۳) بې تاوه پاڅون ته مخ وراړوي

د بــې تاوه پرځنګ (مبارزې) لپاره ستراتيجــيک پلان(د هدف په لوري ګام په ګام د سړک نقشه) ډير اهمــيت لري، ځکه چې ستراتيجيک پلان د ټولنيزو اوسيــاسي خوځــښتونو په اغــيزمنتوب کې غښتلی رول لوبوي. کـه سړی په نوکې احتياط سره وغـربېږي،ويــلی شــی چــی ستراتيجيک پــلان د يوه خوځـښت د هد فونو پوره کول په مـطلق ډول نــشي تضــمينولی، خو د خوځــښت د برياليـتوب امکان غـټولی شي

د شلمې پيړی په پای کې او د يوويشتمې پيړی له پيل راهيسی د متمدني لويديزې نړی د ګټو د

خوندي کولو لپاره غټې ځناورې وسلې راوتلې دي. هر څومره چې ټکنالوجي يانې د علم استعمال په مخ درومي، هغومره د تاوده جنګ وسلې هم پرمختګ کوي. په دغسې مخ په زيا تـيدونکي خطرناک چاپـيريال کې د بې تاوه پاڅون اهـميت هم زياتــيـږي. پاڅونوالان چې د ظالم قدرت د خطرناکو وسلو سره مقابله نشي کولی، دوه لاري لري: يوه د ځان چاودنې لار ده او بله د بې تاوه پاڅون لارده. په دواړو لارو د ظالم قدرت معنويات ژوبلـيږي. موږ په دې هم پوهيږو چې په جګړه کې وسلې او معنويات دواړه اهميت لري. په بله وينا، ځان چاودنه او بې تاوه پرځنګ (مبارزه) د غريب سرِي وسلې دي، او په مقابل کې يې خطرناکې او پرمختللې وسلې د ماړه سرِي وسلې دي.زه دلته په بې تاوه يانې بې تـشد ده پاڅون (ننوايولينت ريزيـستينس) ګړيږم

که نوي ټکنالوجيک انقلاب غټې خطرناکې وسلې رامنځته کړې دي ، نو په عين حال کې يې نوي بريـښنايـيزې اړيکيزې (ارتباطي) وسيلې هم د ځان سره راوړې دي .ګـرځـنده ټلـفونـونه، په ګرځنده ټلفونونو کې ګړندئ کمرې، عکسي او متنی مخابره، اواينټرنيټـــ داټول هغه څه دي چې هره رسوايی،ظلم او تيری د سترګو په رپ کې د افغانستان له سـپين غر او وزيرستان نه د امريکې راکي غر ته رسولی شي. د ارتباط نوی وسيلې دجګړې له چاپيريال نه څپونی لرې کولی شي، او دغه ظرفيت يې د پاڅون والو په ګټه دی (لکه د ۲۰۱۰ له دسمبر راهسي چې د شمالي افريقا او د منځني ختيز په پا څونو کې ليدل کيږي) . ډيرې نوې وسلې الکترانيک ملاتړ (الکترنيک سپورټ) يا کمپـيوټري کنټرول ته اړتيا لري. په پاڅون کی الکترانيک چارپوهان کولی شي چې پرزې(جوړونکې برخې=کمپونينـټز) ورنه وباسی،سافـټـوير(دکمپـيوټرساه) يې ککړه (کنټامينيټ)کړي،پروګرام يې درونډ کړي يا وپـړسوي(اورلوډ پروګرام)،اواليکترانيکس بې حرکته کړی(جيم اليکترانيکس)

هره غښتلې ستراتيجی په هغو موخو (هدفونو) را چاپيره وی چې د بې تاوه پاڅون د پوهو او صادقو شخصيتونو له خوا غوره شوې وي او دومره څرګنده وي چې خلک پرې و پوهيږي. د بيلګې په دول، په پولنډ کې په ۱۹۸۰ کلونو کې د «ملاتـړ» (سالیداريټي) په نوم پاڅون له خوا د خپلواکې په ځای په خپلواکو کارګري اتحاديو ټينګار وشو. دغه هدف هم مشخص و او هم ورته پاڅون والان په لنډ وخت کی رسيدلی شول؛هم يې د کمونيست ګوند له کومي نه مشروعيت راويستلی شو او هم يې د خپلې ټولنې نورو دلوته لار پرانيستله چې ځانګړې خپلواکې اتحاديې

رامنځته کړي. هغه مهال دشوروی اتحاد لاسونه په افغانستان کی تړل شوي وو او د دې وس يې نه لاره چی په پولينډ کی (د ناټو په ګاونډ کې) دې هم د ملاتړ د پاځون سره لاس په ګريوان شي. خو که هدف خود مختاري(اتانومي) يا ملی خپلواکي(اينديپينديس) وي، بايد د پاځون له خوا داسې عمليات وشي چی د هغوی بالـعـل خـپلـواکـــي(ديفکتو اينـد يپنديـنـس) وبنـــئ

د سيا سي قدرت چينې بايد تشخيص شي

بـايـد ديته مـو پـام وي چـي زورواکا ن يانـې ديکـتاتـوران لـه بل هـرچـا نه زيا ت، قـدرت او د خـــلکو له خوا اطـاعت تـه اړتـيا لـري. پاځـون والان غته وظيفه دا ده چی دغه اطاعت ړنګ کـړي. د دغي موخي لپاره بايد د نظام د سيـاســي قدرت چـينې يا ستـنې وپـيژني

۱ــ د مشروعيت او اطاعت منبع،يانې دا عقيده چی مسلط رژيم مشروعيت لری او له دی امله يی اطاعت يو اخـــلاقي مسـولـيت دی

۲ــ د رژيم بشری چينې کومې دي؟ يانې هغه ډلې او ګروپونه بايد تشخيص شي چی د واکمن رژيم ملاتړ کوي

۳ــ بايد معلومه شي چې واکمن رژيم د څـومـره چارپوهانو او ماهرانو په ملاتړ چلـيږي

۴ــ په دې پوهيدل هم حتمی دي چی واکمن رژيم د کومـــو روحـــي او ايـديـــالـوجيک فکـتورونو لـــه لارې د دولس اطـاعت خپلولی شي

۵ــ بايد هغه مادي منابع وښودل شي چی واکمن رژيم پری چليږي، لکه: ملکيتي،طبيعي، مالي، اقتصادی، ترانسپورتي...او ارتباطي يانی د کميونيکـيشن وسيـلې. د مثال په ډول د امريکې حکومت د ليبيا د پاځون د تقويې لپاره د دغه هيواد د مشر معمر قذافي شتمني کنګل کـړی ده

۶ــ په دې پوهيدل هم حتمي دي چی واکمن رژيم د بی اطاعتۍ او نافرمانی په مـقابل کې څه ډول جــزاګـانې کـاروي،لکه کلتوري زجر-- په ليبيا کې په يوه مړوښه ميرمن جنسي تجاوز شوی و

د ولس له خوا عدم تعاون (نن کؤاپريشن) او مدنی نافرماني د تجاوزګرانو او زورواکانو زور

نری کوي او د هغوی د واکمنۍ یانی د سیاسی قدرت د منابعو په چمتووالي(میسر کیدلو) کی سکته راولی. د مروج فکر په خلاف، زورواکي یا استبدادي رژیمونه هم د خپلو ټولنو د ولسونو ملاتړ ته کلکه اړتیا لري. د امریکي یو نامتو واکپوه(پولیټیکل ساینتیست) کارل ډبلیو دویچ په زییز۱۹۵۳ کې ویلی وو:«استبدادی قدرت یواځې هغه مهال غښتلی دی چی قدرت ډیر ځلي ونه کاروي. که چیری استبدادي قدرت حتما هر وخت د ټول ولس په ضد وکارول شي، ډیر لږ احتمال لري چی د ډیر وخت لپاره غښتلی پاتي شي».

it is unlikely to remain powerful for long." Karl W. Deutsch...."

نن ۲۰(جون ۲۰۱۱) تلویزني خبر خپور شو چی د سوریې مشر بشر اسد وروسته له څلور میاشتو نه د «دیالوگ» خبره را ولاړه کړه ، خو هغه بیا هم د مقاومت سره خبرو ته چمتو نه دی (سي این این) چینل

ځانله وګړي یانې هغه څوک چی په کوم ګروپ یا کومي ډلي کي غړیتوب ونلري یا د خپل ولس سره منظمه راشه درشه ونلري، عموما د دې وس نلري چی چه په خپله ټولنه باندی اغیز واچوي. یوه مدني ولسواکه ټولنه په خپلواکوغیر دولتي ډلو او موسسو چلیږي لکه اقتصادی،سیاسي،کلتوري،ټولنیزې، دیني، کارګري،بزګري،علمي،مشورتي،حقوقي،تربیوي، هنري... کلیوال او د بشر دحقوقو سازمانونه. بې تاوه پاڅون والان په اسانۍ سره په دغو سازمانونو کې اغیزمن کیدلی شي

د بې تاوه پاڅون لپاره د ستراتجیک پلان ارزښت

د ستراتیجۍ استعمال په عسکري کړکیچونو کې زیات اهمیت لري. له اوږدو زمانو راهیسي عسکري مسؤلان د خپلوجنګي عملیاتو لپاره په ستراتیجیک پلانونو کی لګیا وو. مهمو مفکرانو لکه چینايي سنتزو،جرمن کارل فون کلاوزیویتڅ،او برتانوي سر بیزیل لیندیل هارټ دغی موضوع ته پام کړی و. له نن نه څه دپاسه دوه نیم زره کالونه وړاندې په شپږسوه قبل المیلاد کی سنتزو «د جنګ هنر» (دی آرټ آف وار) راوویست. له سنتزو نه واورئ:«په سلو جنګونو کې سل بریالیتوبونه غټ مهارت نه دی. خو ستر تفوق یانی غټ مهارت دا دی چی د غلیم پاڅون بې له جنګه مات کړئ. که خپل غلیم او خپل ځان وپیژنئ ، بې له خطره به جګړه په مخ بوځئ. په

غلیم هغه مهال برید وکړئ چې چمتو نه وي. هغه مهال څرګند شئ چې ستاسې د څرګندید لو توقع ونلري». مطلب یې دادی چې غلیم باید غافل وساتئ. فون کلاوزیویتڅ هغه مفکر جنرال و چې په برلین کی د حربي پوهنتون رئیس (۱۸۱۸تر ۱۸۳۰ز) هم و. دهغه مشهور اثر «د جنګ په اکله» نومیږي. جرمني او انګریزي عنوانونه یې داسې دي

(On War) ;Karl von Clausiwitz, Vom Kriege

د فون کلاوزیویتڅ په اند، جنګ باید منطقی وی یاني ګټه او لګښت یی باید اټکل شوی وي؛ لوښيز وي یانی هدف ته د رسیدلو لپاره وسیله او اله وي؛ اوملي وي یانې په ملي ګټو ولاړ وي. نوموړی وایی چی «هیڅوک بایدجنګ پیل نکړي، بی له دی چی وپوهیږي چی د دغه جنګ په واسطه به کوم هدف ته رسیږي او څنګه به یې پلی کوي». یو جرمن جنرال یاکوب میکیل له لومړئ نړئ والي جګړې وراندې ویلي وو:«هرڅوک چې جنګ کوي یا یې درس ورکوي،باید په کلاوزیویتڅ اتکا وکړي». د ویتنام له جنګ نه وروسته، کلاوزیویتڅ د امریکې په عسکري پوهنتونونو کی او د ملی امنیت په کړیو کی مهم شو. بر تانوی لیندیل هارت(۱۸۹۵ تر ۱۹۷۰ز) په لومړئ نړئ واله جګړه کی ټپي شوی و. د نوموړی مشهور کتاب په دی سرلیک و:ستراتیجي:غیرمستقیم چلن

Sir Basil Linddell Hart, Strategy: Indirect Approach

په دغه کتاب کی د غیر مستقیم چلن یا برخورد غټه خبره داده چی د غلیم کمزوري دې ومیندل شي، فورا دې پرې برید وشي د دې لپاره چې ګرندی بری مو په برخه شي

’It should be aim of grand strategy to discover and pierce the Achilles“

”.Heel of the opposing government’s power to make war

بی تاوه یا بی تشد ده مبارزه د کړکیچونو د لار ښودنی او اداری لپاره یو تخنیک دی . په استعمالولو کی یی پاڅون والان(مقاومت) له ټولنیزو، اقتصادي،سیاسي او سایکالوجیک طریقو نه کار اخلي. څوک چی بی تاوه مبارزه نه پلا نوي، په خپل لاس به غټی پریکړی هغه چانس(تصادف) ته پریږدی چی په خطرناکو عواقبو به ولاړ وي. روغ ستراتیجیک پلان د موجوده وضعي واقعي اټکل ته کلکه اړتیا لري (د ستراتیجیک واقعي اټکل نه مطلب دادی چی د

دواړو خواو، یانی د خپل ځان اود مقابل اړخ کمزوری او قدرت دی وتلل شي). په غټه ستراتیجی (ګرینډ ستراتیجي) کی باید هدف څرګند وي او د چینو (د سیاسي،مالي،مسلکي،تنظیمي،تخنیکي، ارتباطي او تبلیغاتي امکانونو)سره اړخ ولګوي. د ستراتیجی محدودو عملیاتو ته ټکټیک ویل کیږي. ټکټیک لنډ مهال وي او په یوه کوچنۍ (جغرافیوي،موسساتي) ساحه کې د لږو اشخاصو په واسطه پلی کیږي. ستراتجیستا ن(جګړاندان یا د جګړې پوهان) باید د خطرناکو عواقبو د مخنیوي لپاره لاندینیو غټو پوښتنو ته جواب ووایي

۱ــ ایا ګوریلایی جنګ به د استبداد او ظا لمې واکمنې په مقابل کی روغه نتیجه ورکړي که بې تاوه مبارزه

۲ــ هدف ته د رسیدلو په لار کی کوم غټ خنډونه پراته دي

۳ــ کوم فکټورونه هدف ته د رسید لو په لار کی مرستندوی دی

۴ــ موجود ظالم نظام کومی غښتلتیاوی لري

۵ــ موجود ظالم نظام کومی کمزوری لري

۶ــ د موجود ظالم نظام د قدرت چینې (لکه اقتصادی،سیاسي،ترانسپورتي،تخنیکي، مسلکي، ارتباطي، امنیتي) په کومه کچه زخمي کیدلی شي

۷ــ د موجود استبدادی نظام په ضد پاڅون والان او ولس کومې غښتلتیاوې لري

۸ــ د ولس او پاڅون والانو کمزوری کومي دي او څنګه رفع کیدلی شي

۹ــ د موجود استبدادي نظام اود پاڅون والانو په اکله د دریم اړخ (ترډ پارټي)،یانې د ناپییلو اشخاصو او ډلو (نوسانې اړخ) دریځ څه دی

۱۰ــ د موجود استبدادي نظام د ړنګونې او بیارغونې لپاره ډیره اړتیا د پاڅون والانو داخلي رول ته ده که بهرنې فشار ته(لکه ملګري ملتونه،اسلامي کانفرانس، په بهر کی ټولنیز سازمانونه،علمی موسسې،کارګري اتحادیی،دینی سازمانونه، سیاسي سازمانونه،..حقوقی سازمانونه)؟ زما په اند، د

پاڅون غټ زور باید د هیواد په دننه کی وي، او په بــهر کې د اوســـیدونـــکو هیـــوادوالـــو مـــــرستـــــه هـــم ډیـــر اهمــیت لـــــــري

۱۱ـ ایا بــهرنۍ ملا تړد پاڅون والانو اتکا په خپل ځان پیاوړي کوی که دهغوی اتکا په بهرني ملاتړ تقویه کوي ۱۲ـ فـرض کړئ چی زوړ نظام د بی تاوه مبارزی له لاری رانسکور شو. ایا د نوي نظام په شـــکلذاو متن با ندې به بــې تاوه پــاڅــون کــوم تــاثـیر ولـــري

۱۳ـ ایا په ټولنه کی داسی موسسې شته چی د ظالم حکومت په ضد د پاڅون والانو سره په مبارزه کی مرسته کولی شي؟ دمثال په ډول: په ۱۹۸۰زییز کالونو کی په پولنډ کی د کمونیزم لاندې، د خپلواکو کارګري اتحادیو د مبارزې ســره دینـــي مــوسسو او د رونـفــکــرانــو ډ لو مــلاتــړ کاوه

۱۴ـ پاڅـــونوالان کــومی نــوې موســـسې رامنځتــه کــولی شـــی چی واقــعی ولســواکی تــه زمـــینه برابره کــړي-- نن سبا په مصر کی عسکري رژیم ورو په ورو هغه تهدیدوونکي ځیری د خپل ولس د احتجاج په اکله ښئ چی د تمبول شوي حسنی مبارک د پیر پولیسو به د خلکو د احتجاج په اکله ښودلې

۱۵ـ د بــی تــاوه پاڅون په حالت کې به ســازمانـــي قـــدرت څـنګه ارت شـــــي

۱۶ـ څــه ډول سیمبولـیزم بــه د بي تاوه پاڅـون ســره په دې کې مرســتـنــدوی شـــي چی د ولـــس زړه ته لار ومــومي او په خــوځـــښت یـــې راولـــي؟ یـانې په اوږده ډګـر کې اغیزمن سیمبول دي ولـټول شـــي. سیمــبول (نمونه) یو تصور(آیدیـا) یا ارمان (آیدیـیال) دی چی خلـک ورتـه مفهوم او اهمیت ورکوي. ملی سیمبول درې وظـیفي لــري: لومړی داچی تصوري مـجمـوعیت همرنګ کړي؛ دوهم داچې د دولت پـیژاند یانې هویت وســاتي، خاصتا د بحران په مهال لکه اوس چی افغانستان د ملي پیژاند په ناروغۍ اخته دی؛ او دریم دا چې د ملت د مجموعي خاطرې او حافظې ځانګړي عناصر غښتلي کړي. یانې ټول ټال، ملي سیمبول د ملت سازۍ بهیر ګړندی کولی شي. ولولئ رحمت ربی زیرک یار په لاندې ډول

Functions of national symbols are threefold: integrating (1) They play a vital role

in integration of the 'imagined' community of the respective nation; (2) they strengthen the identity of the state, especially in time of crisis; and (3) they save collective memory. Based on these functions,... specific elements of the nation's nation-building process, which is important to the national symbols facilitate the cohesion of the people of a country in the long run, namely bringing reconciliation and unity in a diverse society. Countries need national symbols, civic elements and ,economic justice for promoting healthy nationalism." Rahmat Rabi Zirakyar Needs Ahmad Shah Baba: Habibzai's Article Is Praiseworthy", (July Afghanistan" 15, 2010), electronic version

۱۷ــ د بې تاوه پاڅــون غړي او ګډون کوونکي به څــنګه روزل کيـږي او کــوم منابع به ورته چمتو وي

۱۸ــ د بــې تاوه پاڅـــون په اوږدو کې به ولـــس خــپلې ورځنۍ اړتيــاوې څــنګه پــوره کـــــوي

۱۹ــ د بې تاوه پاڅون په اږدو کې به ټــولـنيز نظم څنګه سـا تــل کــيږي

۲۰ــ د اوږدې مــودې بــی تاوه مـــبارزه بــه څنګه پــيل کيږي او په ځا ن بانــدې به د ولـــس اعتماد څــنګه قــوي شـــي چـــی د ظلـــم په ضـــد را پـــاڅـيـږي

سـترا تـيجيـسـتا ن بايد په پيل کې يوه داسې موضوع مينده کړي چی ارزښت يی له ورايه ځليږي او خلک يی په اسانی سره نشي ردولی يانی يو کم خطره (لو ريسک) او اعتماد سازه (کانفيـډنس بيلډينګ) مظاهره: (الف) د يوی موضوع لپاره جامی په غير عادي ډول اغوستل چی د ليدونـکو پام ځان ته راوګرځوي. (ب)د مظاهرې لپاره يوه غير سياسي موضوع ټاکل(مثلا د پاکو اوبو غوښتنه، تنظيفات،د بی تاوه پاڅون د مشاعرې جايزه، د پې تاوه پاڅــون تاريــخ، په يو ځای ګلونه ايـښودل چی سيمبوليک اهمـيت ولـري، د بــا چــا خان د بــې تـــاوه مبا رزي کلتـوري لاسته راوړنې، د افغانانو د جــهاد په مهال د باچاخان هڅـــې)...يا په يو ټاکلي ځاي کی په ټاکلی وخت (لـــکه دجـــمعی د غــرمې له لـــمانځه نـــه وروســـته د جــومات په مـــخ کې) د بــيزوګانو د پاڅون په ګڼ شمير چـاپ شـــوې کـــيسه په خـــلکو ويـــشل

د بــيــزوګانــو پاڅون: شعور راپارونکې کيســه

MONKEYS' UPRISING

نږدې شپږ سوه کالونه وړاندې د ولسي چین په یو ایالت کی یوه زاړه سړي د خپلې نوکرۍ لپاره ګڼ شمیر بیزوګان ساتلي وو. د دغـــه ایالت خـلکو هغه زاړه سړي ته « د بـيـزوګـانـو واکمن» (منکي ماسټر) وایه.هغه به هر سها ر بیزوګا ن په خپل دربار کې راغونډول. بیا به یې یوه زاړه بیزو ته امر کاوه چی نور بیزوګان دې غره ته د بیګار لپاره بوځي او هلته دې پرې له ونو او بوټو نه میوه راټوله کړي. بیزو ګان به چی له غره نه د خپل واکمن دربار ته ستړي ستومانه راستانه شول، هر یو به مجبور و چی د خپلې راټولې کړې میوې یوه لسمه برخه یاني (۱۰ سلني) خپل واکمن ته ورکـړي. کوم بــيزو به چی دغسې نه کول، په کوتـکونو به وهل کيده.

ټولو بیزوګانو زجـرونه ګا لل، خو یوه هـم دومره زړه نه لاره چې شکایت وکړي. یوه ورځ یو تنکي بیـزوګي په ځنګل کی له نورو مشرانو بیزوګانو نه پوښتنه وکړه چی ایا په ځنګل کی د میوې ټولې ونې او بوټي د بیزوګانو واکمــن نــال کـړی وو؟! هــغوی ځواب ورکړ چی «نـــه» هـغه نه دی نال کــړي بلکی پــخپله په طبيعي ډول رالـوی شــوي دي. بله ورځ تنکي بیزوګي بیا په ځنګل کی پوښتنه وکړه چی ایا بـیزوګان د هغه زاړه سړي له اجازې نه په غیر کولی شي چی میوه د خپلو ځانونو لپاره راټوله کړي؟ مشرانو بیزوګانو ورغبرګه کړه چی «هـو، ولې نه!» ورپسې تنکي بیزوګي و پوښتل چی که دغسې وي نو «موږ ټول ولې دهغه زاړه سړي نوکري وکړو؟» د تنکي بیزوګي پوښتنو د ټولو بیزوګانو شعور را ویښ کړ. په همغه ماښام چی د واکمن دربار ته ورستانه شول، د دې په انتظار وو چی هغه به کله خوبیالی شي. هغه زوړ واکمن چی ویده شو، ټولو بیزوګانو خپل شپول وران کړ ، د زاړه واکمن ټوله میوه یی د ځان سره ځنګل ته ویوړه، او د هغه دربار ته راستانه نشول. بـیزوګانو پـه ځنګل کی میوې خوړلې، خو د هـغوی پخوانی انسان واکمن په خپله تشه شوې مانۍ کې له لوږې مړ شو

د دې کیسي تیـتول د بی تاوه پاڅون په پیل کولو کې اغیزمن او کم خطره رول لوبولی شي ، ځکه چی د یوې ساده کیسي په شکل سیاسي شعور تخنوي او راپاروي. په جرمنی کی د اروابناد عبد

الغفار باچا خان(فخر افغان) په سمینار کې (۲۸ نومبر ۲۰۰۸) چې ما دا کیسه واوروله، د اوریدونکو زړونه یې ټکور کړل: ډیر زیات لاسونه یې ورتــه وپـړکـول ،او له غونډ ې نه وروسته راته ډیـرو خلکو د د دغې کیسې د معنــوی قـدرت ډیـرې ستایـنـــې وکړې او په ما یې ټینګار وکړ چې دغه کیسه د ډیرو کړیـد لو خلکو غوږونو،سترګو او زړونو ته ورســوم.

زورواکي ډیرې کمزورې لري

په لـرغــونو یــونـانـــي ادبیاتــو کــې یوه مــشهوره کـیسه ده چــې « د اکـیـلـیس پـړکـی» نــومــیږي

(German) "English) and "Achillesferse) "Achilles' Heel"

دغه کیسه چې د یوه قوي چا په غټ ضعف راڅرخي داسې ده: کله چې اکیلیس ماشوم و ، مور یې په یو ساحرانه سیند کې غوپه کړ د دی لپاره چې د هر خطر په مقابل کې یې د ځـوی کلک حفاظت شوی وي. بس، په جـنګیـالي اکـیلیس د هیچا زور نه رسیده او هیڅ ډول توري د هغه پوټکی نشو غوڅولی. خو سره له بشپړ حفاظته، اکیلیس یوه غټه پټه کمزوري لرله، په دی ډول: هغه وخت چې مور یې خپل ماشوم اکیلیس په ساحرانه سیند کې غوپه کړ، له پـړکي نه یې کلک نیولی و د دی لپاره چې په سیند کی یی د وړلـو له خطر نه وساتي. له دی امله ساحرانه اوبو د مــاشـوم اکـیلیس پـړکـی نه و لوند کـړی. دغه پـړکی یواځینی ځای و چې د اکـیلیس د ژوند خــطر پــکې پټ شــوی و . د «تروېی» په جګړه کی یو عسکر په خپل غشي د اکیلیس پـړکی وویـشت او ویې واژه. نن د اکیلیس د پـړکي کیسه د یوه غټ مستبد، د یو غټ پلان، د یوې قــوي موســسې یا دسیسې، د یوه ځبر ځــواک پــه غټــه کــمزورۍ دلالـت کــوي. د اســتبدادي یا ظـالم رژیم د اکیلیس پـړکی یانی د هغه غټـې کمزورۍ پــه لاندیـنـیـو ټـکـــو کـــې رالـنـډوم

۱ــ په دیکتاتور رژیم کې داخلي سیالۍ او غلیمۍ د مقامونو په بدلولو سره زیاتیـږي او د حکومتي میچن دڅانګو تر مینځ ټکرونه راولاړیـږي، په تیره هغه مهال چې سلطان یا سلطانی ولسمشر ډیر زوړ شوی وی اود سروالي پټې د غړو تر منځ سیالۍ او دسیسې زور اخلي . د هیټلر په نازي رژیم کي به هم کله ناکله د هغه امرونه د هغه د لاس لانـدې خلـکو له خـوا نه پلي کـیدل. د اوسني

یمن ولسمشر علی عبد الله صلاح غوښتل چی په خپل رژیم کی د زاړه ګارد په ځای نوی ګارډ رامنځته کړي چی د خپلې کورنۍ له غړونه یی جوړکړی و. د صلاح قدرتمن جنرال علی محسن الاحمر د صلاح په ضد د یمن د پاڅون والو سره غبرګ شو(۲۴ مارچ ۲۰۱۱) او مشر یی شو

۲ـ روڼ اندي (منورین) او پوهیدونکي (محصلین) کیدا شي چی د شرایطو د خرابید لو له امله نارام شي او د واکمن رژیم په ضد په پاڅون لاس پورې کړي. اوسنۍ څرګندې بیلګې یی د ۲۰۱۱ زییز له جنورۍ راهیسې په تونیس، مصر، لیبیا، سوریه او بحرین کی وینو. دغه ډول پاڅونونه په هغو هیوادونو کی دبریالیتوب چانس لرې چی مدنی او موسساتی جوړښتونو پکی لرودیر چلن میندلی وی

۳ـ سیمه ییز، کلتوري، طبقاتي، مذهبی او قومي مخالفتونه او سیاسي دوه مختوبونه ښایي چی جدی شی. د بیلګې په ډول: په بحرین کی له واکمن سنی اقلیت نه ډیرکیان شیعه ګاان مدنی حقوق غواړي. امریکه چی په لیبیا کی د قذافي په ضد خو د دموکراسۍ لپاره چغی وهي ، په بحرین او یمن کی خپل ګریوان ته نه ګوري. دغه شان واشنګټن په ایران او غلی شان په سوریه کی دموکراسي او مدنی ټولنه غواړي ، خو په سعودی عربستان کی خیر خیریت دی. غټ خان(د بیزو ګانو واکمن) هم دا کوي او هم هغه

۴ـ د بهرنیو قدرتونو له خوا د نازول شوو اشخاصو او ډ لګیو په مقابل کی ښایي د ولس نفرت مخ په زیاتید لو شي. دغسی وضعه ښایي چی د ځان ساتنی لپاره د مسلط رژیم په مشرتابه کی بی اعتمادي او خپلمنځي ټکرونه را پیدا کړي، یا په رژیم کی موجود ټکرونه لا پسی وپړسوي

۵ـ کیدای شي چی پولیس او عسکر په مسلط رژیم داډ له لاسه ورکړي او په کودتا لاس پوری کړي. په مصر کی عسکري قواو د قاهرې په تحریر واټ کې د پاڅون والانو سره له ټکر نه ډډه وکړه

۶ـ که واکمنه دیکتاتوري نوې وي، د خپل تسلط لپاره به د هر چا متازي کوي. دلته بی تاوه

پاڅون والان کولی شي چــی د خپـل اغیــز تـنستــه وغځــوي

۷ــ په استبدادي او ظالم رژیم کی د ګوټی په شمار اشخاصو په واسطه ډیری او غټــی پریکړی کول د دی امــکا ن غـښتلی کوي چی په قـضاوت، پریـکــړو او عملیاتو کی درنــی تــیروتـنی وشـــي او یو بل ته د ملامــتیٔ ګوتی ونــیول شـــي. پاڅون والان کولی شي چی دلته د واکمنو کــړیو په زخــمونو ما لــګــه ودوړوي

۸ــ ځینی دیکتاتور رژیمونه د بهر له خوا تقویه کیږي. که په بهرنیٔ همکاریٔ کی سکته یا بدلون راشي، په بیپار یانی مشتري رژیم (کلاینت رژیم) کی سم دلاسه ویره راپورته کیږي. بی تاوه پاڅون والان له دغسی وضعی نه ګـټه پــورته کــولــی شـــي

په دغو ټولو حالتونو کی ولسي تړون یا ملی پاڅون د یوې پخې ستراتیجیٔ له مخې کولی شي چی د اســتبدادی،لاسپوڅي، ولس دښمنه، او بی عدالته رژیم په مهمو موسسو او اشخاصو کی د نارضا اشخاصو له لارې خپل اغیز غښتلی کړي. هغه ملی پاڅون او ولسي تړون چی په خپله ستراتیجی کی د مستبد او لاسپوڅي رژیم کمزوریو ته کلک پام کوي ،ډیر چانس لری چی بریالیتوب یی په برخه شي—– د هغه ملی پاڅون یا ولسی تړون په تناسب چی بس د مستبد او لاسپوڅي رژیم په مورچلونو وردانګي او نور فکر نلري. د ملی پاڅون او ولسي تړون مشران باید د مسلط او لاسپوڅي رژیم د اکیلیس پوکی ولټوي، لکه: خوراکی مواد، یا که تـیل او ګاس له بـــهر نه راځـــی، د تــرانسپـورت نـظام تــه دی کلــک پــام وکـړي

د بی تــاوه پــا څــون د فعا لـیت لاری

د بـــی تــشـــد ده پـــاڅــون د فـعالــیت لـپاره نږدی دوه ســوه طــریقی ښــودل شــوې دی ، خــو زه د لــتـــه پــه پنځه دیـــرش (۳۵) طــریقــو بسنــه کــوم

۱ــ د بی تاوه پاڅون لپاره علمي غونډې جوړول

۲ــ یوه ازاده مشاعره جوړول ، مثلا د خپلواکی ،عدالت،حقوقي مساواتو، کلتوري مساواتو، د جنګ د جنایتونو...یا ســولې پــه نوم

۳ــ د سپیڅلی قرآن ختم کــول : د خپلواکۍ لپاره، د سولی لپاره، د عدالت لپاره،... د مساواتو لپاره

۴ــ په یوه مشهور ځای کی یوه ورځ (د خپلواکۍ ، مساواتو، عدالت،...سولی لپاره) روژه نیول او د سپیڅلي قــرآن ایا تــونه په لـوډسپیکر کې اورول

۵ــ پټ ښوونځي(انډرګرونډ سکولز) جوړول ، لکه په پـولنـډ کی د هیټلر د قواو د اشغال په مهال. دا مـعلوات راته په کلـیـفورنیا کی زما یو پولـنـډي-امریکایي ملګري راکړل. ده په دغسي یو ښونځی کی زده کړه وه. دغه شان د طالبانو په پیر کې(اکتوبر ۱۹۹۶ تر اکتوبر ۲۰۰۱ پورې) په کابل کی پټ ښځینه ښوونځي چلیدل، ښایی د بهرنیو موسسو په مرسته

۶ــ د یوه مهم شخصیت د مړینی یا دیوې مهمې پیښې تلین نیول

۷ــ په یومهم ځای کی د یوی مهمی موضوع له امله ګلونه ایښودل، یا لس پنځلس دقیقی سکوت کول

۸ــ پټ مطبوعات(ګرځنده ریډیو سټیشن، کتابونه، رسالی....تیتپانی،یانی شبنـامی) او اینټرنیټ کارول اود استخباراتو را ټولول(په امریکه کی یوې اشپـزې د استخباراتو لپاره اوږده موده کار کړی و)ـــګومان کوم چی په ۲۰۰۸م کی یی له نړۍ نه سترګی پټی کړې او ما یی څیره د امریکی په یو ټلویژني پوګرام کی ولـیدله.

۹ــ ګډهیله لیک (پیټیـشن) استول

۱۰ــ ګـډ لوڅـلیک لیـږل

۱۱ــ اسمان لیکونه(مثلا به بادیوې پسې د شعار نښلول) او ځمکه لیکونه

Skywriting and earthwriting

۱۲ــ شعارونه، پوسترونه، کاریکاتورونه

۱۳ــ سیمبولیک رنګونه اوبیرغونه

۱۴ــ په کمیس، څادر،... جاکټ باندې سیمبول رسمول یا شعار لیکل

۱۵ــ سیمبولیک شمعی لګول، په استوګنځایونو کی په سیمبولیک ډول د یوه ټاکلي وخت لپاره رڼا یا بریښنا نه اســتعمالـول:مثلا هره جمع د ماښام په تیاره کی د نیم ساعت لپاره

۱۶ــ د ټوکوټکالو جایزی ورکول

۱۷ــ د ټوکو انتخابات(ډرامی) کول

۱۸ــ په یو مهم ځای کی ډلـه یـیز کیناستل، یانی

teach-ins

۱۹ــ لاریــونــونــه(مظاهري) باید په یو ډیر مهم سمبولیک ځای کي اجرا شي، مثلا: په ۱۹۸۹ کی د ولسي چین د پایتخت بـیجینګ په تیانـنمـین واټ کی (تیاننمین، یانی « د جنتی سولي دروازه»)، په ۱۹۸۹ کی د ختیز جرمني په پایتخت برلین کی د برلین د غوڅوونکي دیوال په مخ کی، په فبروري ۲۰۱۱ کی د مصر د پایتخت قاهرې په تحریر(ازادي) واټ کی، او د سوریې د پایتخت دمشق په تلکلاخ نومې ځای کې

۲۰ــ اعـتصابـونه

۲۱ــ مارشــونــه

۲۲ــ له یو ې غونډی نه وتل، یانی

walk-outs

۲۳ـ تحـريـمونـــه ، یانی

boycotts

د ۱۹۸۰م په فبروری کی د کابل پوهـنتون د حقوقو او سیاسی علومو د پوهنځي ګڼ شمیر استاذانو خپل درسونه تحریم کړل. دوی به خپل پوهنځي ته راتلل، خو درس به یی نه ورکاوه. د دغه درسي تحریم موخه دا وه چی د پرچمي/خلکی دموکراتیک ګـوند د مرکزی کمیټـي یوغړی دې ذکــر شوي پوهنځي ته راشي ددی لپاره چی استــاذان ورتـه پــه افغـانستان باندې د شــوروي پوځــونو د یرغـل په اکله خپل دریځ څـرګند کړي. دری څلور ورځـي وروسـته همدغسی وشول. د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي همدغو استاذانو « د خپلواکی غوښتونکو جـبـــهـه» جـــــوړه کــــړه

۲۴ـ رقعه پريـښــودل(د کار په عادي جريان کي سکته راوستل): پاس د دي پـړکي (فصل) په ۲۳ ټکی کی پــه درســي تحــريم وغږیدلـم. موږ دحقوقو او سیاسی علومو هغو استاذانو چی درس یی تحریم یې پلان کړی و، د کــابــل پــوهنتون نو ر استــاذان هم دیته پټ پټ راوبــلل چی درس دی تحــریم کــړي. خــو که دغسی نشي کولی نو بـیا دی زموږ د درس د تحــریم له پــیل نه یوه ورځ وړاندی د کـومی عاجـلی موضـوع په بهـانه د یـو څـو ورځـو لــپاره قــــانــوني رقـعـــه پـریـږدی. ځینو همدغســی وکــړل

۲۵ـ انګږ جوړول چی په انګریزي کی ورته «پیکـټـینـګ» وایی، یانې د یو تعمیر په ننتوځ کی حلقه وهل چی که له دې لاري د نورو کــارکوونکو او مطبوعاتو پام خپل ډله ییز عـمل ته راوګرځــولی شـــي

۲۶ـ د دکــانــونــو تـړل

۲۷ـ د یــوې ځانګړې موضوع لـپاره ملی اتڼ کـــول

۲۸ـ ګـډې وډې (غیرمعمول) جامـې اغـوستل او یو مـطلبمـن څه پرې لیکل یا رسمول، مثلا:تــل دې وي ټــــول افغانستان؛ تل دی وی د ټول افغانستان خپلواکی؛ تل دی وی د ټول افغانستان ولسي تړون؛ ورک دی وی اشغال؛...یو توغندی رسمول او په څوکه کی یــی د دمــوکـراســی ټکی د

رسـم په شـکل څـوړنـدول

۲۹ـ سپک تابوت جوړول او دوه مطالب پری لیکل(قومی بی عدالتی او ژبنۍ بی عدالتي) او هغه د هرې میاشتې د وروستنۍ جمعې په یو ټاکلی وخت کی په کوم مهم عامه ځای کی (مثلاد جمعی دورځی له لمانځه نه وروسته د جومات په مــخـــکی) ښـــودل او عکسی صحنه یی «یوټیوب»، مطبوعاتو او ویبپاڼو ته استول

۳۰ـ د مخالفت یا ملاتړ لیکونه او بریښنا لیکونه

۳۱ـ په یو مـــهـم واټ کی د بی تشـد ده پـاخـون تـرانه ویل ، مثلا د هـری میاشـتـــی د لومـړۍ جـمعـی لـه لمـانځـه نـه وروسـتـــه؛ یا دغه ترانه د امریکی د سفارت په وړاندې ویل

۳۲ـ د بی تـاوه پاڅـون د هد فونو د پوره کولـو لپـاره د ګـټورو بـهـرنیو اشـخاصو او سـازمانـونـو ســـره تماس نـیـول

۳۳ـ د بـیـزوګـانو د پاڅـون کـیـسه په ولسیانو، مامورینو،او د پوهنتونونو په پوهـیدونکو او منسوبینو ویشل او خـپـــرول

۳۴ـ په وګړیزو رسنیو کی مرکی کول

۳۵ـ د خپل خوځښت د ارزوني لپاره په خپل مینځ کی څرګند بحث کول ،رغوونکی نیوکه منل او زده کړه ورنه کول او په پریکړو خپل خوځښت او دوستان خبرول

۳۶ـ پاڅون والان باید ځانونه سیالان (مساوي) وګڼي، نه دوهمه درجه هیوادوالان(اتباع). په آکتوبر ۲۰۰۱ کي په افغانستان باندې د امریکی له بربـنـډ یرغل راهیسی په پښتـنو باندې عملا داسي رسمی ـ موسساتی چلن ورتپل شوی دی چی هغوی یکي ځانونه دوهمه درجه هیوادوالان احساسوي. دغه احساس د زغم وړ نه دی

سـپارښـــــــــتـــنـــــــې

په غټه ستراتیجی باید ولس خبر شي. دا کار درې ګټې لري: لومړی داچې ولس به په عملیه کې ګډون وکړي.دعامه خبرتیا دوهمه ګټه داده چې مسـتبد واکمن به د پـټې دسیسې یا کومې کودتا له واهمې نه خلاص شی، او ښايي چې د پاڅون په مقابل کې له ډېر تاوتريخوالی نه ډډه وکړی. دریمه ګټه یې داده چې ښـــایې د زورواک رژیم له مورچل نه ځینی انډیوالان وتښتی یا د پاڅون والو سره پټی اړیکی وپالي

د بی تاوه پاڅـون خـبري-اطـلاعاتی ادعـــاګانی او راپورټونه باید په واقــعیت ولاړ وي، ځکه چې مبالــغی او تــشی ادعاګانی د پاڅــون اتــبار له منځــه وړي

بهرنـي مـنابع بـایـد داسی استعـمال شي چې د پـــاڅــون رول د خپل هیواد په دننــه کې غــښـتلی کـړي، نـه دا چې خپـل پاڅــون په بـهرنۍ اتـکا مـعـتاد کــړي

بی تاوه پاڅون باید د خپلو غړو لپاره روزنیز پروګرامونه ولري چې د خوځښت مسیــر اداره کړی. په نظم کی بی نظمی راوستل اسان کار دی. خو بی نظمي په نظم اړول خورا ډېر مشکل کار دی بــی نــظمي د ټولـنی هری ډلی تــه تــــاوان اړوي

په ولس کی باید د بیزوګانو د پاڅون کیسه تبـلیغ شــي

د پاڅون مشرتابه ته په کار ده چې خپل غړي،دوستان او خپل ولس په خپل پاڅون کی د امــر په پاتــکو (چین آف کــمانـډ) خبر کړي. دا کار دوه ګټـې لري: (ا) په بیـړنـیو (اضطراري) حالاتو کی یا د یو کمپـیـن په اوږدوکی، د پاڅون د مشرانو د نیولو یا وژلو په حالت کی پخپله د سازمان پاتی کړئ او ولــس پوهـیـږی چې د چا امــرونـــه ومني او نــظـــم لـــه لاســه ورنـــکـړي. (۲) د مشرانو د ناســـتـنانـــو(جانشینانو) مقررات کولی شي چې د ســیاســـي یـــامــنیتي پولیسو له خوا د پاڅــون په نــوم د تــقلبـي اوغلــطو لاربـښـودنـو(کاونټرفیټ ریزسیستـنس اینـسترکــشنــز) مــخــه ونـــــیســـي

د پاڅون مشران باید د دی لیاقت ولري چی د پاڅون د اعمالو په مقابل کی د مسلط ظالم نظام عــکس العــمل اټــکل کړي او خپل غړی او دوستان(اوکه لازمه وي خپل ولس هم) په دغه عکــس العــمل خــبرکړي، اوپــه دی ډول د عمل برخه وال په خطرونو وپوهـوي

په ټکټیکونو کی سازښت (کمپروماېز)روا دی. خو د غټې ستراتیجی په هد فونو کی سازښت روغ نه دی. دلیل یی دادی چی په غټو هدفونو کی سازښت سازمان بی هد فه کوي او هغه فکري چورلیز ماتـوي چی د پاڅون والانو ارمانونه پرې راتاویـږي. د ارمانونو شـنـدیـد ل پخپله بی هدفی اود پاڅون تجزیې ته لار پرانیزي

بی تشــد ده (بی تاوه) سیاسي مبارزه باید وروسته له بریالــیتوب نــه هم ادامــه ولـري. د بیــلګی پــه ډول، د کلتــوري، قومي،دیني، اقتصادي اوسـیمه ییز عدالت او د بشر د حقوقو په ساحو کی

بي تاوه سیاسي پاڅون باید د پوځي او پولیسي قواو موضوع ته په غټ اهمیت قایل شي. د پاڅون مشران باید په دی پوه وي چی د دیکتاتوری رانسکورول به ډیر مشکل کار وي، خو دا چی د موجود مستبد رژیم په پولیسي او وسله والو قواو کی پاڅون والانو جاله جوړه کړې وي او له دې لارې کولی شي چی له مسـلط رژیم نه ناراضي خــلـک خپل کړي ــ لکه په افغانستان کی چی د خلکو دموکراتیک ګوند په پولیسو او وسله والو قواو کی دخپل نفوذ په مټ په اسـانی سـره د ۱۹۷۸ زیـیز د اپریل په ۲۸ (۷ غویی ۱۳۵۷زییز) کـودتـا وکـړه. دا سي بریښي چی د سیاسی او اقتصادي حقوقو د ګټلو لپاره به د مصریانو د اوسني پاڅون (جنوري تر فبروري ۲۰۱۱) ځینو اشخاصو د عسکری قواو سره اړیکې ساتلې وي

د واکمن مستبد رژیم د حملو په تودو شـیبو کی باید پاڅون والان له مـتـقابل تاوده عکس العمل نه ډډه وکړي.دا کار دوه ګــټی لـري: یـو داچی د مســتبد رژیــم تـوده حـمله به ولــس ته د هــمدغه رژیــم وارخـطایي او وحشت په ډاګه کـــړي. دوهـم داچی د پاڅون والو نرم سلوک (لکه بی تشـد ده مظاهره) به د ولس زړه سواندي راوپاروي او په دې ډول به د مسلط رژیم ملاتړ په ولس کی کمزوری شي(دلته د لوستونکو پام په کابل کی د پرچمی /خلکي میر اکبرخـیـبر وژنی ته را اړوم: خیبر له خلکی کودتا نه یولس ورځی و ړاندې د ۱۹۷۸ د اپریل په ۱۷په کابل کی د «قدم

وهلو» په مهال ووژل شو. محمد اقبال وزيری چی د حفيظ‌الله امين د ډلي خلکی بريښي او د امين د وژني پوری د افغانستان د وسله وال پوځ د سياسي چارو عمومي ريّس و او ورپسی دشورو ی يرغل سره جوخت د څه دپاسه لسو کالونو لپاره دڅرخی پله په زندان کی ميلمه و، د ميراکبر خيبر د وژنی په اکله داس ليکلي دي:«په دی ترتيب[مير اکبر] خيبر چی د شورو ي اتحاد له خوا د پرچم [گوندي څانگې] په وجود کي د [محمد] داود پر ضد د [پرچمي] کودتا سره مخالف دی،بايد دمخې ايسته شي....شوروپانو دهغه خنډ ليرې کول گرندی کړل چې د داود خان پر ضد يې د ببرک د کودتا مخالفت وکړ. مير اکبر خيبر د ببرک د راپوټ په اساس د کې جي بي له خوا ترور شو....د خيبر د جنازې مراسمو د داودخان رژيم بې حوصلې کړ او د افغانستان د خلک[و په] ډموکراتيک گوند باندې يې بريد وکړ....» (د ثور پاڅون، د کې جي بي دسيسي او شوروی يرغل، د پښتونخوا د پوهني ديره، پيښور، لمريز ۱۳۸۶=۲۰۰۷ زييز، مخونه ۵۵ تر ۶۰). مـاته د مير اکـبر خيـبر د وژنـي پـيښي هغه جنايي فلم را په زړه کړ چي په ۱۹۷۴کی په امريکه کی راوتلی و: د ختيز په ايکسپريس گاړي کې وژنه. د «رفيق» ميراکبرخيبر په وژنه د خلکو او پرچم د گوندونو قدرت ته رسيدلو مشرانو يوه اوښکه توی نکړه!؟

USA Murder on the Orient Express, 1974

بی تـشد ده پاڅون چی د موجود مـستبد رژيم مانـی سوکه سوکه په نـړيـدلو کی وويـني، بايد د خپل « موازي حـــکومت» يانی (پرليل گورمينټ) د جوړولو په لټه کی شي. د پاڅون مشران بايد لږ تر لږه هغسی سياسی الفاظ او اعمال څرگند کړی چی د موازی حکومت (ديفکتو حکومت) پټ يا غلی موجوديت تمثيلولی شی. د بی تاوه پاڅون مشران بايد خپل فعاليت په عمل راوڅرخوي، نه په عکس العمل:ابتکار دې وکړي، نه دا چی د مـقابل اړخ ابتکار ته انـتظار وباسي. لکه په ۱۹۸۹زييزکی(۱۵ اپريل تر جون ۴) د ولـــسي چـين د محصلـينو مثـال د بيجـينگ په تيانمين واټ کی: پوليسو به چی د محصلينو په ضد کـوم اقد ام نه کاوه، محصلين به په سـړک کی اک پک ولاړ وو،او نه به پوهيدل چی څه وکړی. خو بيـا هم يو سـړی (« د ټانک سړی»: دي ټينک مين) د سياسي او اقـتصادي سـمونونو د پاڅون بی نومه اتــل شــو

د بی تـاوه پاخـون مشـران بايـد خـپل زور د مـستبد رژيـم کـمزوريو تـه مـتوجـه کـړی او

سوکه سوکه خپل بریالیتوب ورونښئ

د بی تاوه پاڅون مشران باید په دی خپل سرونه خلاص کړي چی هدف یوائی اویوائی د زورواکي یا مستبد نظام ړنګول نه دی، بلکی موخه دا ده چی د زورواکي نظام په ځای باید یو ښه بنه او د ولس لپاره ګټور نظام کلک شي . د مصر پاڅون والان لا تر اوسه د حسنی مبارک د سلطاني ولسمشری په ځای د حسن مبارک د پوځ سره په کړکیچ کی اخته دي. یوه ستراتیجی چی یوائې د موجود نظام په ړنګولو راچاپیره وي، ډیر امکان لري چې یو بل کفن غل نظام وزیږوي. لرغوني یوناني فیلسوف ارستو زموږ پام دی ټکي ته راګرځولی و چې «استبداد کیدی شي چی په بل استبداد واوړي.» وګورئ په فرانسه کې د ۱۷۸۹ زییز د انقلاب په نتیجه کې جاکوبینز او ناپلیون ته، په روسیه کی تزار او بلشویک نظام ته، په ایران کې اریامهر رضا شاه او خمینی ته، په افغانستان کی له شاهي نظام وروسته جمهوري نظام، پرولیتاریات، مُلاتاریات، طا لب تاریات، او اوس د امریکې ډالرتاریات ته چې د پښتنو په غرونو، کورونو، ګورونواو ودونو د دموکراسی بمونه وروي

ډیر ځلی د بي تاوه (بی تشد ده) پاڅون عملیات د عکس العمل په څیر وي، نه د ابتکار یانی عمل په څیر چی هدف او وسیلی یکی تلل شوی وي. په بله وینا،عمل باید له یخي ستراتیجی نه الهام واخلی او د غټ هدف سره اړخ ولګوي

جذاب شخصیتونه په سیاست کی رول لوبولی شی. خو حتمي نه ده چې د بی تاوه پاڅون په څوکه کی به د هند د مهاتما ګاندي، د ټول افغانستان د باچاخان(فخر افغان)، د سهیلي افریقا د نیلسن مندیلا، د امریکې د ډاکټر مارتین لوتر کینګ، د پولنډ د لیسوالیسا، یا د فلپین د کورازون اکینو په شان جذاب شخصیتونه ولاړ وي. مهمه دا ده چی د بی تاوه پاڅون مشران د غټو پریکړو د کولو لیاقت ولري، د زړه ورتیا خاوندان وی، خلک تشویق کړای شي، او غټ هدف ته دوه سترګی څلور کړي(کلاریټي آف پرفس). دغه شان د روغ مشرتابه لپاره مهمه ده چی د ناستنانو(جانشینانو) په اکله مقررات یکي څرګند وي او دسازمان بیلا بیل پاټکي د ستراتیجی په اکله معلومات ولري

د بي تاوه پاڅون غړي او ګډون کوونکي باید د عملیاتو په مهال د دیسیپلن په اکله یو تړون

یا یوه ژمنه ومني (اګریمینټ آن ننـوايولـینت ډیسـیپلـین)، په دی ډول

۱ــ وسلې او د الکهولو په شمول نشه يي مواد بايد را نه وړل شي

۲ــ په مقابل اړخ پسې ملنډې ونه وهل شي

۳ــ د سوک ځواب دې په سوک ورنه کړل شي،یانې د تاو تریخوالي په مقابل دې تا وتریخوالی استعمال نشي

۴ــ د مقابل اړخ استازي(پولیس،پوځیان، منځګړي) دې تهدید نشي

۵ــ په خپلو غړو او دوستانو دې ټینګار وشي چې که ډیسـیپلـین (انضـباط) نشي زغملی، له مظاهرې یا نورو عـملیاتو نــه دې ووځــي

۶ــ شخصي او عــامـه ملکیت ته دې تــاوان وانــه ړول شي

یـــــو ځــــو زده کــــــړې

د ډیکټاټوری او اشغال په رنګولو سره حتما د ټولنې نور پرابلمونه خپل پخپله نه حل کیږي، لکه: غربت،مرزاقلمي(بیوراکراسي)،بدې اخیستل،جنایتونه، امنیت،، غیر موثریت، د چاپیریال رنګول،کلـتوري نـا انډولـتوب، او د بهرنیو هیوادونو لاس وهني(د دې لپاره چې د نوې نسبتا خپلواکې ټولنې د پــر مــخـتـیا بـهیر د خپلو ګټو مطابق کنـترول کړي). د مثال په ډول له اکتوبر ۲۰۰۱راهیسې اشغال شوی افغانستان د (۲ جمع ۶) په فورمُل چلـیـږي. جلالت چـیـن حامـد کرزی چې د امریکې په زور په افــغانستــان ورتـپـل شوی دی ، د مثــال په ډول د دې وس نه لري چې ګـیلم جم دوسـتم له کاره لرې کـړي ، د اداري بې کفایتیو، ټولنیزو بې عدالتیو اوکلتوري

ســــپکاويــو مـخــــه ونــيسي

تجربه ښئ چې په اغيزمن ډول د ظالم رژيم د رانسکورولو لپاره ،ياني په لږو بشري تلفاتو او مادي تاوانونو ســره د ډيکټاتورۍ د ړنګولو لپاره څلور کارونو ته اړتيا ليدل کيږي

۱ــ په مـظلوم ولـس کې بايد د خـپل تـکل (ډيـټر ميـنيشن) او په ځـا ن د بــاور شـعور غـښتلی شي او د پاڅـــون مـهــارتــونـــه پکــې وروزل شـــي

۲ــ مظلوم ولس ته بايد خپل ډوهل وډنګول شي: د ولس خپلواکې ټولنيزې ډلګۍ او موسسې دې غښتلې شي

۳ــ يو بــاورمن او قــوي ولــسي تــړون بايد په پېښو ودرول شي

۴ــ ســړی بايد نه يواځې يو غټ ســتراتيجيک پـلان راوباســي، بلکې د دې وس هم ولــري چې دغه ډول پــلان په مــهارت ســـــره عـملي کــړای شـــي

۵ــ د بې تاوه پاڅون ستراتيجي هغه مهال اغيزمنه وي چې نړۍ ورته توجه وکړي او د بی تاوه پاڅون عمليات په نيک اقدام سره بدرګه کړي. په دې اکله فلسطيني-امريکايي ليکوال او تحليلګر يوسف منير يو غټ ټکي ته زموږ پام راګرځوي: که لويديز غواړي چې فلسطينيان دې بې تاوه پاڅون وکاروي، بايد لويديز دې دهغه چا په مقابل کې هم خـپل غږ لــوړ کړي چې د فلسطـينيانو بې تاوه پاڅــون په وچ زور ســره غـلی کـوي

دخپلې پورتنۍ وينا تـنسته په اووه (۷) غـټو خـبرو کــې را لـنډوم

۱ــ «خپلواکي وړيا نه ده»

"Freedom is not free!"

۲ــ لـه ظـلم او ستــم نه خـپلواکي ګټـل مــمکـن کـــار دی! د پښتو متل دی: که غـر لوړ دی په

سر يې لار ده

۳ــ د خـپلواکۍ د ګـټـلو لپاره يو دقـيق ستراتيجيک پلان ته کلـکـه اړتـيـا ده

۴ــ مواظـبت (ويجيليـنس)، سخت کار، او منـضـبط او مـنظم خوځښت (ډيسـيـپلـينډ موميـنټ) د دقيق سترا تيجيک پـلان د بـري لـپاره حـتمـــي دي

۵ــ نــوې (بريـښــنايـيزه) ټکـنـالــوجي چــې پـه غـيرمــرکزي شکل استعمـاليـږي، راشـه درشـه ياني مراوده (کميونيکـيشن) ارتـولی او اســانولی شي، خوبيا هم پـاخـــون بـــې له پـاخـــون والانو نــاشــونی کــار دي

۶ــ پاخـون هغه مهـال روغ او ګټور وي چې د ولـس روحيـې ، سياسي حـقوقـو او اقـتصادي ګټو پکې تـنسته غـځولـــې وي

۷ــ کله چې مسلط رژيم د خپل ولس د بې تاوه پاخون په مقابل کې تود زور زياتی (ماشينګنې، توپـونه، جنګي څرخکی او الوتکې، او کلک روحي او جسمي عذابونه) په پرلپسي ډول کاروي، د بـې تاوه پاخون بې تاوه ادامه به ډيـره مشکله وي ــ لکه نن سبا چې دغه ډول زورزياتی په ليبيا ، يمن، بحرين او سوريه کې ليدل کـيـږي

دوهـــــــمه بــــــــرخـــــه

بې جسمه نړۍ او په منځني ختيز کې بې تاوه پاڅون

د مصر «سلطاني» ولسمشر حسنی مبارک چې وروسته له ديرش کلني ټولواکۍ نه د ۲۰۱۱ په

فبروری کی و غورځول شو، د خـپلو تیرو مشرانو(جمال عبد الناصر او انور سادات) لـیدنې ته لاړ . جـمال عـبـد الناصر د زړه د تـم کیدني له امله مړ شوی و، او انــور ســادات وژل شـوی و. دواړو حــسنی مــبارک و پوښته چی دی چــا وژلی دی؟ مــبارک ور غــبرګه کړه چی فیـسبـوک وژلـی دی. دا ټوکه می د شریف عبدالقدوس له خولې واوریدله چی په قاهره کی د ریډیو فاسـیفـیکا،امریکا خبر یال و او هلته یې د خلکو له خولې اوریدلې وه

Democracy now!” hosted by Amy Goodman (March 8, 2011“ ,Pacifica Radio

په بې جسمه نړۍ کې د انقلا ب بیــه

په اوسنۍ بې جسمه (برېښنايـیزه = ډیجـیټل) نړی کی هر څوک لګیا دي. دلته خلک په لار روان وي ، خو سرونه یې ځوړند وي او هر یو د خپل لاس تلي ته ګوري. په بسونو، اورګاړو، بـیړیو، او الوتکو کې کی هم خلک یا د خپلو لاسونو تلي ته ګوري یا په خپله غیـږ کی د خپلې برېښنایـیزې تختې سره بوخت وي. په غونډو کی اوریدونکي نه یواځی وياند ته غوږ نیسي، بلکې د خپلو لاسونو له تلي نه هم سترګې نه پورته کوي. په پلورنځایونو کې رانیوونکي په لړۍ کې ولاړ وي او هم د ځان سره غړیـږي او هم د خپلو لاسونو تلي ته ګوري

برېښنایـیزه(ډیـجـیټـل) نړۍ بې جسمه نړۍ ده او له دیـنه وړانـدې جسـمي (پري- ډیـجـیټل) نړۍ وه. په جسمي نــړۍ کی د انــقلابي عرضې وسـیلې محدودې وې ځکه چی مطبوعات د مرکز په لاس کی وو (سینـټر الایزد میډیا) او له دې امله په اسانی سره کنټرولـیدلی شول. دغه ډول حالت (جسمي حالت) د پاڅون والانو لپاره هم ډیر خطر ناک و او هم یکې ددې امکان کمزوری و چی پاڅون والان دې نور خلک د اوښتون (انقلاب، پاڅون) لپاره خپل ملګري کړي. له انقلاب نه می مطلب هغه عملیه ده چی خلک یکې د د دولت فطرت اړوي. دغه ډول اوښتون د لویدیزې نړۍ د وروستني ۲۳۵ کلن تاریخ عادي خصوصیت و او په نوره نړی کی له ۶۶ کلونو را هیسې لږ و ډیر رواج لري. د انقلاونو د تاریخ لپاره ولولئ

John Foran (ed.), Theorizing Revolutions (London, Routledge, 1997); Willie Thompson, The Left in History: Revolution and Reform in twentieth-century Pluto, 1997; Charles Tilly, European Revolutions 1492-1992 :London) Politics (Blackwell, 1995 :Oxford)

په جسمي نړۍ کی هغه جسمی غونډې او تماسونه ډیر خطرناک وو چی د مسلط رژیم د اوښتون لپاره په عملیاتو راڅرخیدل. نتیجه یی داسی ده چی د اوښتون (انقلاب) بیه جګه وه، او په مقابل کی یې د انقلاب د تقاضا مقدار (کوانټیټي آف ریولیوشنري ډیماند) ټیټ و. په بله وینا، په جسمي پړاو کې انقلابونه هم ډیر خطر ناک وو او هم ډیر مشکل وو

په اوسني پړاو (بریښنایيزه ، ډیجیټل مرحله) کې د انقلابي وسیلو عرضه(سپلای آف ریولیوشنري مینز) نه یواځی جګه شوې ده، بلکې ارزانه شوې هم ده (د اوسنۍ راشي درشي یا ارتبطاتو ټیکنالوجي په اینټرنیټ او ګرځنده تلفونوولاړه ده). په دغسې نوي پړاو کې دولتی مطبوعات یانې د مطبوعاتو تمرکز په نړید لو دی او ډیره مشکله ده چی دو لتونه دې د خلکو تر مینځ معلومتي راشه درشه کنټرو کړی شي که څه هم ځینې دولتونه سانسور کاروي(لکه ولسي چین، یوګاندا، او مصر د حسنی مبارک د زورواکۍ په وروستنیو شیبو کې:د ۲۰۱۱ د جنوری له ۲۲ نیټې نه د فبرورۍ د ۱۱ پورې). په مصر کې د حسني مبارک دیرش کلن استبداد په ۱۸ ورځو کی د راشې درشې د نوې ټکنا لوجۍ (د فیسبوک، ټویټر، بلاګ او ګرځنده ټلفون) په مټ رانسکورشو. پایله دا شوه چې نوې ټکنالوجۍ انقلابي راشه درشه اسانه، ګړندۍ او ډیره کم خطره کړې ده‌ـــکم خطره په دې مانا چی د راشي درشي د اړخونو هویت پکې ورک او نامعلوم دی

هـو، ټـولواکان (مستبدان) به په دې بـسنه ونکړي چې لاس تر زنې لاندې کیني او اوښـتونونو ته ښه راغلاست ووایي. هغوی به هڅه وکړي چی د انقلاب بیه جګه کړي، یانې انقلاب مشکل او خطر ناک کړي(دغه وضعه نن سبا په لیبیا، سوریه، یمن او بحرین کی وینو). هر څومره چې د انقلاب لګښت لوړ شي، هغومره د انقلاب د مقدار تقاضا (ډیمانډ) رالویږي. په بله وینا: د ظالم واکمن ګټه په دې کې ده چی د انقلاب لګښت لوړ وي، خو د دې په مقابل کې د پاڅون والانو (انقلا بیونو) ګټه په دې کې ده چې د انقلاب بیه دې ټیټه وي (یانې انقلاب دې اسان او کم خطره وي). عـموما په هـغو هیوادونو کې چې دولـتي مـوسسې(درې ګونې قواوې، عسکري قواوې،

پولیس، استخبارات،...علمي او تحقیقاتي موسسې) او مدني موسسې پکې پیاوړې وي، اود راشې درشې نوې ټکنالوجي (اینټرنیټ او ګرځنده ټلفون) پکې ښانګوره وي، انقلاب پکې ارزان(کم خطره او اسان) وي. په هغو هیوادونو کې چې دولتي ځانګې او مدني موسسې پکې نشت یا ډیرې کړکیچو (ماتې ګوډې) وي، د پاڅون (انقلاب) بیه به پکې جګه وي ،یانې پاڅون به پکې مشکل او خطر ناک وي. د مثال په ډول، په تونیس او مصر کې اوسني پا څونونه کم بیه (اسان او کم خطره) وو، خو په مقابل کې يې په ليبيا، سوريه، یمن او بحرین کې وضعه د دې سرچپه ده: دلته د پاڅون قیمت جګ دی، یانې پاڅون هم مشکل دی او هم خطرناک دی. ولولئ

Mary C. Joyce, “The Price of Revolution”, April 21, 2011

د راشې درشې(ارتباط) تاثیر

د نولسمې پيړۍ په نيمايي کې جرمن فيلسوف او اقتصاد پوه کارل مارکس په ۱۸۵۳ کی « په هند کی د برتانوي واکمۍ راتلونکو نتيجو» ته داسی پام کړی دی چی د اوسني بدلون سره علمي اړخ لګوي:« د لويومغلو ستر قدرت د مغلي نايب السلطنه ګانو(وايسرويز) په واسطه ړنګ شوی و. د نايب السلطنه ګانو قدرت د مرهټوپه واسطه ړنګ شوی و. د مرهټو قدرت د افغانانو په واسطه ړنګ شوی و. په داسې حال کی چی ټولو د ټولو په مقابل کی مبارزه کوله،انګریز ګړندی رانٔنوت او په دی یی وس ورسيد چی ټول هند په ولکه کي راولي». دغه نوي بر تانوي قدرت چی په ټکنالوجۍ سمبال و، انزوا یی وشلوله، او د هندو او مسلمان او د قبيلو او طايفو په زاړه نظام یی «د سياسي يووالي» وزرې خپرې کړې چی «اوس به د برقي تلګراف په واسطه غښتلی او تلپاتی شي.» په هند کې د ازادو مطبوعاتو او د يوې نوې په علم سمبالې تخنيکي طبقې بوزغلی راوټوکید. د اورګاړي او بخار ي بيړيو (سټيم ويسلز) د ترکيب له لارې واټنونه رالنډ شول. د مارکس په اند، د دغي ارتباطي عمليې په اوږدوکې د هند موډرن صنعت او «ملی پاڅون» ته لار هواره شوه . له ملي پاڅون نه يي مطلب په ۱۸۵۷کی د هند د پوځ پاڅون و چی انګريزانو به ورته بغاوت (ميوتيني) وايه. مارکس وايي چی د عسکر وپاڅون ځکه ملي و چی مسلمان او

هــندو يکــې برخــه لــرله

په شلمه پيړی کی محلی ريډيو سټيشنونو او محلی تلويژنی سټيشنونو ټول ټال محلي اهميت لاره. ورو په ورو خاصتا له دوهمي نړی والي جګړې را په ديخوا ، غټو قدرتونو د خپلو تبليغاتو لپاره داسی ريډيو سټيشنونه جوړ کړل چی غږ به يې د غليم کوټو ته ورننوتلو(بي بي سي،امريکا غږ، المان غږ، د ازاد برلين غږ،او د امريکی په لګښت د ازادۍ ريډيو چی اوس يی مرکز پراګ کی دی، او له مصر نه د جمال عبدالناصر په مهال عرب غږ چی عرب ولس د عرب ګوډاګيانو په مقابل کی راويښ کړی). په کودتاګانو/انقلابونو کی به مرکزی ريديو سټيشنونه نيول کيدل. په افغانستان کی چی اروابناد سردار محمد داود په ۱۹۷۳ کی شاهي نظام رانسکور کړ،سم د لاسه د هغه قواو ځانونه د هيواد يواځيني ريډيو سټيشن ته ورسول. خلکيانو چی د ۱۹۷۸ په اپريل کی د افغانستان لومړی جمهوری نظام ړنګ کړ، يو عسکري افسر يی په ګـړندي ډول د ټلويژن او ريډيو سټيشن ونيو او د بدلون اعلاميه يی خپره کړه

د ۱۹۶۰ کلونو په اوږدو کی په لوديز کی ترانزيستر ريډيو راووت چی د کميونيستی او استبدادي رژيمونو د سر درد يی لا پسي زيات کړ. وروسته ساتيلايت ټلويژنونه(سي اين اين ، آلجزيره او نور) را ووتل چې د دولت په واسطه د معلوماتو د خپرولو انحصار يې لا پسي ژوبل کړ

کله چی اينټر نيټ راووت، د لازياتو او ګړنديو معلوماتو د لاسته راوړلولپاره يی لار پرانيستله، او سر بيره پر دی يی وګړي (فرد) ته د دې فرصت ورکړ چی خپل معلومات، نظريې او څيړنې خپاره کړي بې له دی چی څوک يی نوم وپيژني. د بيلګې په ډول، يوې ويب پاڼې به هره ورځ د مصر د معتبر دولتي يا نيمه دولتی اخبار(الاحرام) په ډنډورو پسي ملنډې وهلې اوپه دې ډول به يې مصري ولس ته دخپل دولت سياست رغی او پيکه ورپيژانده. په اينټر نيټ کې په ګړندي ډول د ټويټر، فيسبوک او بلاګ له لارې د ټولنيزې راشي درشي انقلاب (سوشل نيټ ورکينګ ريوليوشن) ځانګې خپرې کړې. دلته خلک کولی شي چې نه يوازې معلومات او نظريې، بلکې تنظيموونکې مفکورې (اورګانايزينګ آيډيياز) هم د يو بل سره شريکې کړي. په نننۍ عربي نړۍ کې اينټرنيټ تجملي څيز د ی او له دی امله يی ډير خلک نلري

of School Dubai As stated in the inaugural Arab Social Media Report released by

Government, a leading research and teaching institution, “the total number of in the Arab world has increased by 78 percent, from 11.9 million in Facebook users January 2010 to 21.3 million by December 2010, with 75 percent of the Facebook community in the Arab region belonging to this demographic [youth between the and 29]”. (“Facebook plays critical role in Arab world’s social 15 age group .(movement”, February 8, 2011

په عرب هیوادونو کی نه یواځې اینټرنیټ و چی مراوده او بحث یی غښتلی کړی و و، بلکې ګرځنده تلفونونه هم وو چی هلته یې خورا ډیر خلک لري. له پوررتني بحث نه دې نتیجې ته رسیږو : هغه پخوانۍ معلوماتي سیستم چی « یو به پکې ډیرو ته» معلومات ورکول، هغه نوي معلوماتي سیستم ته سر ټیټ کړی دی چی « ډیر پکې ډیرو ته» معلومات ورکوي. په دې ډول، نن ټول د ټولو سره په تماس کی دي او لا تر اوسه هیڅوک بل څوک نشي کنترولولی. دا حالت د وګړي (فرد) په ګټه دی، خو ټولواک (مستبد) پکې تاواني شوی دی

From “one-to-many” system of communication to “many-to-many” system of .(communication(Fareed Zakaria,/GPS

د مالکولم ګلډویل نظر هم پام وړ دي: پخوا پاڅونونه/انقلابونه بې له اینټر نیټ یاني بې له اوسنۍ ټولنیزې میډیا نه رامنځته شوی وو! د بیلګې په ډول: په ۱۲۱۵ م کی په انګلستان کی کوچني اشرافیان د پاچا د بشپړ قدرت په مقابل کې را پاڅیدلي وو(مګناکارتا). وګورئ، په ۱۷۷۶ زییز کې د انګریزانو په ضد د امریکایانو انقلاب ته، د بې انصا فه مالیاتو اود فیوډلیزم په ضد په ۱۷۸۹ زییز کې د فرانسي انقلاب ته، په ۱۸۵۷ کې په هند کې د انګریزانو په ضد د سپاهیانو پاڅون ته ، په ۱۹۱۷ زییز کی په روسیه کې بلشویک انقلاب ته، په ۱۹۵۶زییز کې په هنګري کې اصلاحاتي پاڅون ته، په ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۸زییز کی د الیکساندر دوبچیک په مشرۍ په چکوسلواکیه کی اصلاحاتي پاڅون ته، په ۱۹۷۹ زییز کی د اریامهر په ضد د ایرانیانو پاڅون ته. دغه شان په ۱۹۸۹ زییز کې په ختیز جرمني کې په میلیونونو انسانان د برلین د بیلتون د دیوال په مخکې راغونډ شول که څه هم د هغوی ۱۳ سلنې (۱۳٪) خلک تلفون لرونکي وو . دلته باید

زه (زيرکيار) ووايم چې د ختيز جرمني خلکو د لويديز برلين او لوديز جرمني ريډيو سټيشنونه اوريدلی او تلويژني پروګرامونه ليدلی شول

دلته بايد زه (زيرکيار) د لوستونکو پام دې واقعيت ته هم راوګرځوم: که ټولنيزه (اينټر نيټي) ميډيا په مسلط رژيم اغيز ونلري، نو بيا ولې د مصرټول واک « ولسمشر» حسني مبارک د پاڅون په مهال اينټرنيټ وتاړه؟ دغه شان په ولسي چين کی ولې حکومت ۲۴ ګينټې د اينټرنيټ کلکه څارنه کوي او که لازم يې وګڼي تړي يې؟ ولـولئ

Tighten Censorship of Electronic China",Sharon LaFraniere and David Barboza (Communication" (New York Times, March 22,2011

د ولسي چين په شان، يوګاندا هم د اينټر نيټ دړه تړلی شی. نن د ايران حکومت ديته اړ شوی دی چې د خپلو بلاګرانو تر مينځ د سيالی ملاتړ وکړي او ګټونکي بلاګر ته جايزه ورکړي. د غه اړتيا ښئ چې د ايران حکومت په عامه بحث کې د ټولنيزې ميډيا (ټويټر، فيسبوک، بلاګ) له اغيز نه ستګې نشي پټولی

نن هرڅوک نړيوال ناشر دی، نه يواځې حاکمه پټه او د هغې د قدرت ممثل حکومت! دا چې يو څوک په نړيواله کچه اوپه ګړندي ډول خپل فکر خپرولی شي، د نړۍ په سياسي منظره کې يو ستر بدلون ښئ‌ـــياني موجود نظام ته بلنه (چلنج) ورکوي! په بله وينا، دغه حالت چې موجود نظام يکې د چلنج سره مخامخ دی، نوئ نړيوال نظام تمثيلوي. که څه هم نوې ټکنالوجي په نامتمرکز (نن سينټرالايزد) شکل راشه درشه اسانولی او د پاڅون/ انقلاب بيه راټيټولی شي ، پاڅــون/انقلاب بې له پاڅونوالانو ناشونی کاردي! زما په اټکل، د امريکي استخبارات به نن سبا دې پو ښتني ته ځواب لټوي چې اينټر نيټ (خاصتا ټولنيزې ميډيا) به د ۲۰۱۰ زيـيـز لــه دســمبر راهيسې د عربي نړۍ په پاڅونونو کې کوم او څومره رول لوبولی وي

سلطانان او «سلطاني ولسمشران» او په عرب اسلا مي نړۍ کی د بی تاوه پاڅون

لـــــــــــــــړۍ

«سلطاني» مستبدان (سلطانيستيک ډيکټيټرز) د ولسواکۍ څيرې پيښې کوي(اساسي قانون، ګوندونه، انتخابات، پالمان لري)، خو د قدرت په ځګو مقامونو کې خپل مطيع ياران مـقرروي. دوی د خپل حاکمـيت لپاره شـتمني راغونډ وي، ترڅو هم ځانونه ماړه کړي او هم خپل مطـيعان. دوی زياتې شتمنۍ ته داړتيا له امله مجبور وي چې اقتصادي پرمختګ (تعليم، صنعت، تجارت) ته ښه راغلاست ووايي او د بهرنيو دولتونو سره د دې لپاره اړيکې ټينګې کړي چې له هغوی نه د امنيت په بدل کې مرسته او پانګه اچوونه (اينويسټمينټ)وغواړي. دوی عسکري او امنـيتي قواوې (پوځ، ، هوايي قوه، پوليس ،استخبارات) داسې تنظيموي چې دهرې څانګې مشر به پخپله مستبد مشر (سلطان يا ولسمشر) ته راپور ورکوي. مثالون يې دا دي: په ايران کې رضا شاه پهلوي، په اندونيزيا کې سوهارتو، په سودان کې عمر البشير،په سوريه کې حافظ اسد او له ۲۰۰۰ زييز راهيسی يی ځوی بشر اسد، په تونيس کې عابدين بن علي، په فلپـين کې فرناند مارکوس، په هايتي کې دوولير،، په مصر کې حسنی مبارک ، په ليبيا کې معمر قذافي او په يمن کې علي عبد الله صالح

د منځني ختيز او شمالي افريقې په عـرب اسلا مي هيوادونو کې لومړی تاوجن پاڅون د لويـديز ښکيلاک په ضـد و. خو دلته اوسنۍ بې تاوه (بې تشد ده) پاڅون د سياسی او مدني حقوقو د غصب ، له اقتصادي فرصتونو نو نه د مـحرو مـيت ،او د لويـديز د ګټو د خونـدي کولو لپاره د سلطانانو او د «سلطان ولسمشرانو» په ضـد راوزيږيـده. دغه بې تاوه اوښتونونه زما د څيړنې لپاره ځانګړی اهميت لري، ځکه چې(زما په اټکل) لويديزه نړۍ خاصتا واشنګټن هـڅه کـوي چې په اسـلامـي نړۍ کې د روان اوښتون (بدلون) په بهير کې هم ټاکونکی اغيز ولري، په دوه دليلونو: يو داچې د دغې سيمې د انرجي مواد و زخـيرې د لـوديـز لپـاره اهمـيت لـري. دوهم داچې د امريکې د سيـاست سـرکـونه د اسـرايـيلو لــه منـځه تـيـريږي! د امريکا او اسرا ييلو د روابطو لپاره ولولئ په امريکه کې د واکپوهنې(سياسي علومو) د دوه نامتو پوهاندانو اکاډ ميک مضمون او د دواړو کوټـلی کتـــاب

Foreign .U.S Lobby and Israel John J. Mersheimer and Stephen M. Walt, The ,"Lobby Israel" ,Policy (Farrar, Straus and Giroux, August 2007, 496 pages); ibid Review of Books, Vol. 28, No. 6 (23 March 2006), pp. 3-12. Also, see Robert London Independent, April 27, 2006; James Petras, Fisk, "United States of Israel?", The Power of Israel in the United States of America (2006); Irene Gendzier, " U.S. Policy in Israel/ Palestine: The Forgotten History", Middle East Policy, Vol. XVIII, No. .((Spring, 2011

ولسمشر بارک اوباما په خپله مهمه وینا کې (۱۹می ۲۰۱۱) د عربي نړۍ د ولسي پاڅون په اهمیت وغږیده، خو له دینه یې سترګې پټې کړې چې په ځان نیوکه وکړي، یانې په تیرو ۵۸ کلونو کې په ایراني او عرب منځني ختیز کې د امریکې سیاست وغندي.ولسمشر اوباما وویل چې د دغی سیمی «دیرو مشرانو» د خپلو خلکو نارضایي بلې خو ته متوجه کړه: لویدیز یې« د ټولو بدبختیو د چینی په څیر مقصر» وګاڼه او د اسراییلو سره «تضاد یی د سیاسي اظهار لپاره د منلو وړ یواځینۍ مخرج » وګاڼه. درې ورځې وروسته (۲۲ می ۲۰۱۱) ولسمشر اوباما په امریکا کی د اسراییلو د ملاتړ سازمان (آیـپک: امیریکن اسراییل پـبلیک افیرز کمیټی) ته وینا وکړه او هـلته یې خـپل سیاست تو ضیح کـړ. دغه پیرزوینه بنۍ چې د امریکې په بهرني سیاست کی د اسرایيلو ګټو ته پاملرنه حتمی ده. که په عرب اسلامي نړۍ کې د سیاسی او اقتصادي عدالت لپاره بې تاوه پاڅون روان دی اود امریکې روڼ اندي ولسمشر اوباما ته خوند ورکوي ، د امریکې نازولی دوست(اسرایـیل) لا همغه شان له اشغال او زور نه کار اخلی او اوبا ما یې سیل کوي. که د اسرایـیلو لومړۍ وزیر بنجمین نتانیاهو د اوباما وړاندیز ته پام نه کوي، باید امریکه د یو خپلواک هیواد په څیر لږتر لږه د فلسطین دې وړاندیز ته پاټک وانه چوي چی د خپلواک هیواد په څیر د ملګروملتونو غړیتوب لاسته راوړي. که لویدیز په تیره واشنګټن غواړي چې فلسطینیان دې بې تاوه پاڅون وکاروي، باید لویدیز واکمنان د هغه چا په مقابل کي هم خپل غبرګک کړي چی د فلسطین بی تاوه پاڅون په زورزیاتي سره غلی کوي. د بی تاوه پاڅون ستراتیجي هغه مهال ډیره اغیزمنه وي چی نړۍ ورته پام وکړي او د بی تاوه پاڅون کړاندې (عملیات) په خپل نیک اقدام سره بدرګه کړي. په فلسطین کی بې تاوه پاڅون اوږد کړکیښ لري. ولولۍ د فلسطیني- امریکایي لیکوال او تحلیلګر یوسف منیر لنډه لیکنه

Occupation Israel ,"s Hidden History of Nonviolence'Palestine" ,Yousef Munayyer .(Archive (May 22, 2011

ولسمشر بارک اوباما او د امریکې د نازولی اسراییلو لومړئ وزیر بنجمین نتانیاهو باید د امریکایی ژورنالیست جیفري ګولډبیرګ تصوري مخلید ته کلک پام وکړي. ګولډبیرګ غواړي چی د ا ردون د سیند او د مدیتیراني دبحیرې په منځ کی دوه ولسونه په «کړوونکي او تغیرنه منونکی ډول راګیرکړي» . هلته لیکوال پریږدي چې په غربي غاړه (ویسټ بینک) او د غزې په پټه کی دې د اسراییلو نفوس دومره زیات شي چې په ۲۰۱۷زییز کې (په زیـیز۱۹۶۷ کې له شپږورځني جنګ نه پنځوس کلونه وروسته) دواړه سـیمي د اسـرایـیلو په ولکه کې ورشــي.بیا به نو لیکوال ګولډبیرګ چې ځان یې فلسطینی تصور کړی دی د ملګروملتونو په وړاندي داسي دریځ ونیسي: « موږ فلسطینیان، نو ر د خپل هیواد لپاره هڅه نه کوو. موږ د اسرایـیلو تلپاتی اشغال، د اسرایـیلي پوځ تسلط او د اسرایـیلي اقتصاد زور منو. په دې ډول، موږ غواړو چې ورسره شریک شو. د [۱۹۶۷ زییز] له «موقت» اشغال راهیسي په پنځوس کلن پیر کې ، موږ په خپلو سترګو په سلونو زره اسرایـیلیان لیدلي دي چې زموږ د میشت ځایونو په خوا کې یې خپل میشت ځایونه اباد کړي دي. موږ دوی ته شابسی وایو دهغه څه په خاطر چې جوړ کړی یې دي او دهغه حقوقي نظام په خاطر چې د دوی ژوند اداره کوي. د دوی سر چپه، زموږ ډیر خلک د اسرایـیلي عسکري قوانینو لاندې ژوند تیروي خو د هغو اسرایـیلیانو له ټاکنی نه محوم دي چې په موږ واکمني چلوي. په نتیجه کې موږ نور نه غواړو چې خپل دولت ولرو. موږ یواځې د رای حق غواړو».لیکوال ګولډبیرګ د دغې وینا سره جوخت زیاتوي چې: «او دا به بې له شکه، د اسرایـیلود پای لامل شي». نوموړی کاږي چې اسرایـیل به یا فلسطینیانو ته د رای حق ورکوي، یا به یې له دغه حق نه محروموي او په ډول به د اپارتاید یانې د نژادي تـبعیض دولـت ته راتیـتـېږي. په دغه ډول حالت کې به اسرایـیل په خپل لاس خپل غټ او« وروستنئ دوست » (امریکا) هم وبایلي !ځکه چی هیڅ امریکایي به -- د یهودي امریـکایانــو د ځوان نـسل په شمول—هغه اپارتاید ونه زغمي چې له نیلسن منـدیلا نه وړاندی په سهیلي افریقا کې چلیده

Jeffrey Goldberg," Why Palestinians Have Time on Their Side", Bloomberg .((May 24, 2011

منديلا ۶۷ کلونه د ټولنيز عدالت لپاره په مبارزه کې تـير کړی وو او له ۱۹۹۴ تر ۱۹۹۹زيـيز پوري لومــړئ جنوبي افريقايــی و چې د ازادو انــتخابــاتو له لاري ولــسمــشر شــوی و. د هــغه په ويــاړ، مــلګرو ملــتونو يوه ورځ « د منـد يلا ورځ» (منديلا ډی) په نـوم ټاکــلي ده . د فلسطين او اسراييلو د ټولنيز، سياسي او حقوقي کړ کيـچ د کره څيړنـې لپاره لاندې اثار ولولئ

The Goldstone Report: The Legacy of the Landmark Investigation of the journalists Adam Horowitz, Conflict. Edited by American-Jewish Gaza Lizzy Ratner and Philip Weiss. Naomi Klein (Introduction), and Archbishop Destmond Tutu (Foreword), 2011; William A. Cook, The Plight of the Palestinians: A Long History of Destruction (2010); M. Shahid Alam, Israeli Exceptionalism: The Destabilizing Logic of Zionism (2010); Illan Pappe, Cage: The Ethnic Cleansing of Palestine (2007); Rashid Khalidi, The Iron The Story of the Palestinian Struggle for Statehood (2006); Jimmy Carter, Palestine:Peace Not Apartheid(2006); Ali Abunimah, One Country: A Bold .(Proposal to End the Israeli-Palestinian Impasse (2006

اوسنئ نړی ته پوه ټولنه (نالیج سوسایټي) ویل کیـږي. په پوه ټولنه کی اوښتون ګړندی روان وي. له دی امله د سیاست مسلط لوبغاړي هم ګړندیو اقدامونو ته اړتیا لري. له انقلابونو نه هغه څوک ګټه اخیستلی شي چی تنظیم شوی وی. مثلا په تزاري رو سیه کی ایډیالیستي دموکراتانو یانې «د کار ګروپ» په نوم معتدل کارګري ګوند چی په الیکساندر کیرنسکي راچاپیر وو، انقلاب وبایله. خو منظمو بلـشویکانو وګاټه. دکیرنسکی پلار په منځني ښوونځي کی د لینن سرښوونکی و. د دواړو کورنیو غړي دوستان وو، او په خپله کیرنسکي یو وتلی حقوقپوه و چی د سیاسي بندیانو په دفاع کی یې نوم ویستلی و.هغه د ۱۹۱۷ د فروری په انقلاب کی یو وتلی لیډر و، خو د ۱۹۱۷ د اکــتوبر په (بلشویک) انقلاب کی له قدرت نــه وتــمبول شو. په افغانستان کی د افغان ملت «ټولنــپاله ولسواکي» او د ارواښاد محمد هاشم میوندوال «مــترقــي دموکراسي» څه ناڅه د کیرنسکي د ډلی سـره او په مقابل کی یې د خـلکو دموکراتیک ګوند (د پټي اساسنامي او پـټـو فـعالـیتونو له مخې) لږ وډیر د لینن د بــلـشویک تنـظیم سـره پر تـلـه کـید لــی شـــي . اوس شـپږ

میاشتي کیږي چې د عـــرب اسلامی نـړۍ په بیلا بیل هیوادونوکی چی سیاسی پـولي یې د استعمار د اداري مـلتونو د ګـټو له مخی ټاکـل شوی دی د پاڅـون چـغـه توده شـوی ده. دوی له دوهمې نړۍ والی جګړی نه وروسته د ساړه جنګ په توده سیالی کی د استعمار له نیغو منګولو نه راخلاص شول، خو په سیاسي، اقتصادی، عسکري او تخنیکي چارو کی یې لړوډیر د پخوانو خانانو په ټغر خاپوړې کولې. د استعمار اداري ملتونه رسما د خپل برخه لیک په ټاکلو (سیلف ډیترمینیشن) ښاد شول. خو د سیاسیی--مصنوعي پولو له امله دوی د ترکټورونو په ځای ډیر ټینکونو ته اړ شول او ولس د دې مجال ونه میندہ چې په داخل کې د «خپل» ګوډاګي بادار په مقابل کی د خپل برخه لیک د ټاکلو لپاره راپورته شي. په هغو نیمه خپلواک هیوادونو کی چی انرجی زخیرې یی لرلې، کورنیو او دهغوي مطیعانو او یارانو پرې ځانونه ماړه کړل. دغو کورنیو او د هغوی تعلق والانو او وفامنانو په مجموع کې د لویدیز سره راشه درشه لرله.هغوی په ایـران کی د امریکي او انګریز له کودتا نه زده کـړه کړې وه: په ایران کې ډاکتر محـمد مصد ق د پارلـمان لـه خوا د لومړي وزیر په حیث وټاکل شو(۱۹۵۱ تر ۱۹۵۳) . هغه هڅه وکړه چې په ایـران کې د تیلو صنایع ملي کـړي. د امریکې د هغه مهال د بهرنیو چارو وزیر جان فاستر دالیس د واشنګټن د سیاست سازانو یو ګروپ ته د ۱۹۵۳ زییز په جون کی وویل چې امریکه به ځان له «لیونـي سړي مصدق» (میډ مین) نه بې غمه کوي. هغه وو چې د ۱۹۵۳ په اګست کې د امریکې مرکزي استخباراتو (سي آی أئ) او د برتانیې استخباراتو (ایم أی جي) د ډاکتر مصد ق ملي دمـوکراتیک واکـمني ړنګه کـړه او د هـغه په ځای یې خپل ګوډاګی محمد رضا شـــاه پــهلـوي مـقرر کـړ(۱۹۵۳ تر ۱۹۷۹ زییز). د دغې کودتا لپاره ولولئ

(Stephen Kinzer, All the Shah's Men (2003

د امریکې یو نامتو روڼ اندي ګور ویدال خپل هیواد « د هیرتیا مـتحد ایالـتونه» ګڼلي دي. بس د بوهاند بارک اوباما ګناه نشته ځکه چې « د هیرتیا د متحدو ایا لتونو» ولسمشر دی

(of Amnesia (2004 United States Reflections on the :America Gore Vidal, Imperial

د ټونيس نظام: فاميل

د ۲۰۱۰ د دسمبر په ۱۷ نیټه په ټونیس کې د سړک په غاړه یو ځوان خرڅوونکی بوعزيزي د پوليس له خوا په عذاب شو ځکه چی د هغه د وه ګاړيز پټنوس یی ورنه ضبط کړ. محلي مامور هم د بوعزيزی شکايت ته پاملرنه ونکړه . له دې نه وروسته، نا امید بوعزيزي د ولايت حکومتي مرکز ته لاړ ، تيل يې په ځان توی کړل او ځان ته يې اور ولګاوه. دغې دردونکې پيښې د ټونيس محروم ولس پاڅون ته راوباله. ولسمشر عابدين بن علی چی پخوا د عسکري پوليسو مامور و ، لومړئ عرب ټولواک (مستبد) و چې د ولس بې تاوه پاڅون راوپرزاوه. ټونیس غټه منځنئ طبقه، د کارګري اتحاديو غښتلی خوځښت او په جګه سويه تعليمي نظام يې لرل. خو «سلطاني ولسمشر» بن علي د ازادۍ وينا اوسياسي ګوندونو په مقابل کې کلک مقررات وضع کړي وو. د هغه کورنۍ په رشوتونو او فساد ککړه وه. د تجارتي سروالي پټې اکثريت د بن علي خپلوانو جوړ کړی و: د هغه درې بالغ ځامن، اووه خويندې ورونه، او د دوهمې ميرمنې لس خويندې ورونه . په تجارت کې د بن علي دخپلوانو دغه جال په ټونیس کې د «کورنۍ » (فیمیلي) په نوم شهرت ګټلی و. عسکرو عملی-جنګي تجربه نه لرله او په داخلي اقتصاد کې يې مسلط رول نه و لوبولی. پوځ نه د بن علي په دفاع کی ودريد، نه يې په منځمهالـه (انتقالي) پـړاو کې کوم پـام وړ رول و لـوباوه. خو د دې سرچپه، کـارګـري اتحاديو د خپل ولـس په پاڅون کې مهم رول ولوباوه

په مصرکی د ولسمشر ټولواکي: د اسراييلو او امريکې په خدمت کې

مصر په عرب نړۍ کې ځانګړئ اهميت لري: یو داچې د مصر د وګړو شمير (څه دپاسه اتيا مليونه) د عرب نړۍ د وګړو د شمير (نژدې ۳۶۰ ميليونو) څه د پاسه یوه پنځمه برخه (

۲۲،۴٪) جوړوي. دوهم دا چې د اسرایيلو سره خورا اوږد سرحد لري. دریم داچې له بل هر عرب هیواد نه غټ تجربه شوی جنګي قدرت لري(وروسته له مصر نه،اردن دوهم عرب هیواد دی چې د اسرایيلو سره اوږده سیاسي پوله لري). له دې امله د واشنګټن لپاره حتمي ده چې د اسرایيلو د حفاظت لپاره د مصر او اردن سره نژدې اړیکې وپالي. په ۱۹۷۹ کی د مصر او اسرایيلو ترمنځ د امریکی په کمپ ډیوډ کې د سولی تړون رامنځته شو. له دغې پیښې راهیسې د مصر او د امریکې تر منځ عسکري اړیکې کلکې شوې دي او مصری جنرالان د واشنګټن سره همکاری لري. د مصر پوځ په داخلي تجارت کی لاس لاره ، نه په بین المللي تجارت کې . د حسنی مبارک شتمني د څلویښت او اویا بیلیون امریکایي ډالرو تر منځ اټکل شوی ده . د مصر تجارتي سروالي پټې د حسنی مبارک د ځوي جمال سره تړلواله جوړه کړې وه. نهه دیرش مامورين او تاجران چې په جمال راچاپیر وو، د هر یوه شتمني یو بیلیون ډالر اټکل شوی ده. ولــولـــئ

.(Lisa Anderson, “Demystifying the Arab Spring”, Foreign Affairs (May-June, 2011

وروسته له دې چې انور سادات د ۱۹۸۱زییز په اکتور کې ووژل شو، حسني مبارک د دیرش کلونو لپاره د مصر سلطاني ولسمشر و. په مصر کې رژیم او پوځ نوکي له یوبله جلا وو-- هر یو له یو بل نه جلا یاني خپلواک پاتی کیدای شو . داسی بریښي چې په مصر کی بی تاوه پاڅون به له تونیس او په ختیزه اروپا کی د سربیا له «اوتپور» (پاڅون) نه الهام اخیستلی وي. د پوځ او پولیسو تر منځ اړیکې د زړه له کومې نه وې. عسکر د پاڅون پلویان شول. پاڅونوالان باید د دولتي ځانګو له ټکرونو او ځان غوښتنو نه ګټه پورته کړي. بلاګر خالد سید د پولیسو له خوا ووژل شو. د هغه وژنې پاڅون را وپاراوه. دغه پاڅون په اولس (۱۷) ورځو کی د حسنی مبارک دیرش کلنه سلطاني ولسمشري رانسکوره کړه. دغه سلطان ولسمشر هغومره چې مصری تبعه او ټولواک و، هغومره له ۱۹۸۱م راهیسي د امریکې ملګری او له دې لارې د اسرایيلو د امنیت مرستندوی و. د جګ عمر په مهال د سلطان او سلطاني ولسمشر لپاره ناستن (جانشین) پیداکول عموما اسان کار نه دی. هر څومره چې سلطاني ولسمشر زړیږي، هغومره د ناستن موضوع جدي کیږي. په دغه حالت کی باید بی تاوه پاڅونوالان دوه سترګې څلور کړي ، د بیلابیلو اړ خونو سره راشه درشه منظمه کړي او د شخصیتی بد لون په فضا کی د

خپـل خـوځـښت د اغـيزلـپاره سورِي ولټوي. د سـلطانی ټولـواکانو د بحث لـپاره و لـــــولئ

Jack A. Goldstone, "Understanding the Revolutions of 2011", Foreign Affairs (May-.(June, 2011

لـيبيـا مساوي په قـذافي: نـه د خپل او نـه د بل

په ټونـيس او مـصر کی ټولـنه او دولت موجـود وو، خـو ليـبـيا په قـبيله او بي دولته حالت (بي له مـوسـسو) چلـيـد له. په واقعيت کی معمر قذافي هرڅه و(القذافی د قذافي نوم او هم د هغه د قبيلي نوم دی) : پخپله په قذافی کی ليبيا(هيواد)، قبيله (ټولنه) او دولـــت (موسـساتي طرزالعمل) منعکس شوی وو، ياني ليـبيا مسـاوي پـه قذافي ده. هغه خپل قدرت او حاکميت ټول ټال د خپلي قبيلي او خپلوانو په نازولتيا او لطف سره تامينا وه. پـــه حکومت باندي د ولس ډاډ له منځه لاړ او له دي امله هرڅوک ديته اړشول چي خپلي قبيلي ته پناه ويسي. حتی داچي پخپله پوځ هم د سيمي او قبيلي په ناروغی اخته شو. دنورو موسسو درک هم نه معلوميږي. کله چي د عسکرو ملاتړ د پاځون والانو او ټولواک رژيم تر منځ تقريبا په مساوي ډول ويشل شوی وی ، د غسي انډول ګـډوډی او دا خلي جنګ ته زمينه برابروي . په ليـبيا کی پوځ دوه ډ لي شوی دی. يوه ډله د قذافي په دفاع کي لګيا ده او بلي يي د مقاومت سره انـډيوالي ښودلي ده. د ليبيا د عدليي پخوانئ وزير مصطفی عبدالجليل او پخوانی داخله وزير جنرال عبد الفتاح يونس د قذافی رژيم پريښود ، پاځونوالو ته ورغلل او د ملي انتقالي جرګي (نيشنل ترانزيشنل کونسل) د مشرتابه يوه برخه يي جوړه کړه .دغي جرګي له لويديزو هيوادونو نه د ملاتړ هيله وکړه. د ملی انتقالي جرګي موخه داده چی د قـذافي رژيم به رانسکوروي اوپر ځای به يـي د دغی جـرګي د لارښـودني سره سـم يوه او ټـولـه لـيـبيا په پــښو ودروي. د قـذافی دوه ځامن (سيف الاسـلام او مـعتصم)هم داســی ښـکاري چی د يوبل سره به په سيالــی کي اخـته وي. پاځونوالان بايد د هغوی له سيالی نه ګټه واخلي. په ليبيا کی يوسل څلويښت قبيلي شته(الشرق الاوسط:۲۲ فبروری ۲۰۱۱)، خو د هغو قبيلو شمير چی څرګند نفوذ لري، له ديرش نه جګ نه دی(ليبيايي نژاده ټولنپوه

او تاریخپوه ډاکټر فراج عبدالعزیز نجم). هغه قبیله چې د قذافي په سیمه کی «کلک او اوږدمهاله» نفوذ لري مګاریحه (مجاریحه) نومیږي. د قذافي صدراعظم عبد السلام جلود دغی قبیلی ته منسوب دی. د عسکري او پولیسي قواو په څنګ کی باید د لیبیاپاڅونوالان مجاریحه قبیلې ته هم کلک پام وکړي، ښايي چی د قذافي په ضد د کودتا کولو وس ولري . د ټولواکانو (مستبدانو) په اکله د بارک اوباما د سیاست دوه مختوب د پام وړ دی: په داسې حال کې چې د اوباما اداري د معمر قذافي شتمني «کنګل» کړی ده یانې له استعمال نه يې ویستلې ده، د امریکې د پخواني دوست (د مصرد ټولواک ولسمشر) حسنی مبارک شتمني يې لا تر اوسه نه ده کنګل کړې. ولولئ

s Muammar ’Libya assets of .U.S the Obama administration has frozen the “ Gaddafi, but not those of Egyptian leader Hosni Mubarak.” Philip Shenon, “Dirty .(Dictator Loot”, Newsweek (February 21, 2011

په یمن کی د علي صالح سلطا نې ولسمشري: د امریکې په خدمت کې

علی صالح له ۳۳کلونو راهیسې د یمن ولسمشر دی. دلته مظاهرې د ۲۰۱۱ زییز د جنوری په وروستیو کې پیل شوې او د کلیفورنیا په وخت د جون په دریمه نیټه د ولسمشر علی صالح د تېښې کیدنې خبر خپور شو. داسی معلومیږی چی د وسله والوحکومتی قواو کومه برخه به د مقاومت اړخ ته تښتید لې وي او په دقت سره به یی په علی صالح باندی برید پلان کړی وي. له جنوری نه نیولې د صا لح د ټپي کیدنې پورې، نژدی ۴۰۰ خلک وژل شوی دی او دهغوی دریمه برخه په تیرو دوه اونیو کې. د علی صالح قبیلوی مخالفان د احمر د خیل غړی دی.نژدی دوه اونۍ وړاندې د حشید قبیله چی د صالح پلوي وه، سرکونو ته را ووتله. دغه قبیله د یمن د ۲۵ملیون نفوس غټه برخه (ښايي اکثریت) جوړوي. کیدای شی نوری قبیلې د یوې خوا یا بلی خوا په ملاتړ راووځي او د داخلي جنګ اور بل شي؟

له ۲۰۰۴ زییز راهیسې د حکومت او د شمالي حوثي (هوثي) پاڅون والانو تر منځ جګړې رواني وې. په ۲۰۰۹ کی دغه نښتې بیا تودې شوې او د یمن په شمال کی يې د سعودی عربستان حملې

ته لار هواره کړه. په سلګونو خلک پکی ووژل شول او تقریبا دوه سوه پنځوس زره انسانان پکې بیځایه شول. شمالي حوثي په زایـدیـانـو ورګډیـږي چې یوه اقلـیتي شـیعه ډله ده. امریکه په دی پلان کی اخته ده چې وروسته له علی صـلـح نه باید داســی نـظام رامـنځته شی چې د سعـودی عربـستان په شبه جـزیره کی د هغه جنګ سره مرستندوی وي چې امریکې هلته د ترهه ګری په ضد پیل کړی دی. الفضلی اوجنرال علي محسن الاحمر دواړه قبیلوي مشـران دي، دواړه د علي صالح په دربار کې د مقام خاوندان وو، او په دواړو کی اسلامي عقیده غښتلي ده. الفضلی د الفضلی د قبیلی مشر دی او مـحسن الاحـمر د حشید د غټ قوم .اوس دواړو د علی صالح په ضد مورچل نیولی دی (جنرال محسن د ۲۰۱۱ د مارچ په ۲۴ د پاڅون والانو په ملاتړ کی ودرید). د علی صالح مور په خپل دوهـم واده کی د جـنرال محـسن د تره مـیرمـن وه

په یمن کی د سیاسي امنیت د سازمان (پولیټیکل سیکیوریټي اورګانایزیشن) مشران د علی صالح پلویان دی، خو ټول ټال د دغه مهم استخباراتي او امنیتي سازمان ژمنه د شک لاندې بریښي. په ۲۰۰۰زییز کال کی د امریکی په یوه مهمه عسکري بیړۍ (یو ایس ایس کول) باندی کلک برید وشو او له دی امله علي صالح د امـریکې د کـلـک فشـار لانـدې راغـی . د صالح ستراتیجي دا شوه چې خپل پخوانۍ ګارډ (سرواله پټه) سـوکه سـو که (پـه مـزه مـزه) کـمزوری کړي او خپل نوۍ ګارډ له هغو خاصو امنیتي اورګانونو نه جوړ کړي چې ټول ټال به یې په څوکه کی د صالح خپلوان ناست وي . د صالح ځوی احمد علي د جمهوري ګاډ او د خاصو عملیاتو د قـواو مشـر شـو، خپل ناسکه ورور (علي صالح الاحمر) یی د جمهوري ګارډ له مشرۍ نه لرې کړ او په واشنګـتن کی یـی د د دفاع اتاشي وټاکه او بیا یی د وسله والو قواو لوی درستیز وټاکه. ولسمشر علي صالح په نورو مهمو مقامونو کی خپل وریرونه ولګول: یحی یی د مرکزي امنیتي قواو ستر جنرال، طارق یی د مخصوص ګارډ کوماندان ، او احمر یی د ملی امنیت د دفتر مشر وټا که. په دی ډول د سلطانی ولسمشر علی صالح ټول ځامن، وریرونه او د تره ځامن د جمهوری ګارډ په بیلابیلو مقامـونو کی ځای په ځای شوي وو. دغه ټـولي ایجنسـۍ د امریکـــی پـه مالـــي مرسته چـــلیدلي: په ۲۰۰۶ زییز کي دغه مرسته پنځه ملیون ډالروه خو څلور کالونه وروسته (په ۲۰۱۰ کـــی) یوسل پنځه ملـیون ډالـرو ته جګـه شوه

جنرال محسن په دی پوهیده چې د ولسمشر علی صالح دوهم نسل په قدرت خیټه اچولي وه اود

پخوانی ګارډ قدرت ته يې پاتې اچولی و. په ۲۰۰۹ زییز کی چی د الحوثی قوم دوهم پاڅون پیل شو، ولسمشر صالح په محسن باندی لا زیات شکمن شو. محسن په خپله ادعا کی دیته ګوته نیولی ده چی صالح لږترلږه د هغه د وژنی هڅه کړی وه(ویکي لیکز، ۲۰۱۰). د ۲۰۱۰ د پای پورې علي صالح لومړی زوړ ګارډ وزپاوه او بیا یې دیته مخه کړه چی د ولسمشر د دورې محدودیت له منځه ویسي او د خپل ځوي لپاره د سلطاني ولسمشرۍ دمقام د نیولو زمینه برابره کړي. خو ۶۶ کلن جنرال محسن د یمن په مرکز سنا کی د ۲۰۱۱ زییز د مارچ په ۲۴ د صالح د رژيم په ضد شو. د دې سرغړوني سره جوخت، يو شمیر نورو مهمو عسکري، سیاسي او قبیلوي شخصیتونو د محسن سره تلواله جوړه کړه . شیخ حمید الا حمر د الحشید غټ قوم ته منسوب و، او د علی صالح قبیله سنهان د دغه قوم یوه څانګه ده. شیخ حمید یو غټ تاجر او د اصلاح د ګوند مشر دی. دغه ګوند د پاڅون په جبهه (جوینټ میټینګ پارټیز) کی غښتلی رول لوبوي. شیخ حمید او محسن دواړو د سعودي عربستان د شاهي کور نۍ سره نږ دې اړیکي پاللي دي. شیخ حمید غواړي چې د علي صالح ځای ونیسي. ښایی چی جنرال محسن به هم دغسي اراده ولري. خو د محسن جهادي سابقه او د واشنګټن سره **د هغه بې خونده اړيکې به په نوموړي باندې امریکه شکمنه وساتي**

د بحرین سلطنتي جزیره: د امریکې د پنځمې بحري قوې کور

نړۍ ولې د یمن، قطر او بحرین ځارنه کوي؟ د لوستونکو پام دوه تنګو (ستریتز) ته راګرځوم : یوه د هورموز تنګه ده چی هره ورځ ورنه د بحر له لارې شپارس نیم ملیون بیرل تیل تیریږي. د بحرین، ایران، عراق، کویټ، قطر، عرب متحد امارات، او سعودي عربستان تیل د هورموز د تنګې له لارې نړۍ ته استول کیږي. دوهمه د ایتوپیا، د سومالیې د ښکر او د یمن تر منځ تنګه ده چې د عد ن خلیج ورته ویل کیږي او هره ورځ ورنه د بحر له لارې درې نیم ملیون بیرل تیل تیریږي. په بله وینا، د نړۍ د تیلو نیمایي برخه(۵۰٪) هره ورځ له دغو دوه تنګو نه انتقالیږي. نن سبا د امریکې ولسمشر د یو داسي مشکل رول په لوبولو کی نښتی دی چی په څرګند ډول ورته ګوته نشی نیولی. دغه رول د نړی وال امپراتور رول دی چی نړۍ به ورسره په راتلونکې لسیزه کی لاس په ګریوان وي. د امریکې امپراتوري هم په نړۍ کې د ولسواکی د پیاوړي کولو او تیتولو غوري دربې کوي او هم د نړۍ په هر ګوټ کې د خپلو ملی ګټو د خوندي

کولو لپاره اړې جوړوي او ساتي. د امریکې نږدې ملګري یا سلطانان دی یا سلطاني ولسمشران دي: لکه په ایران کی شاهنشاه رضا شاه پهلوي، په مصر کی حسـني مبارک، په یمـن کی علـي صالـح، او د بحرین په کوچـنئ خو سراتیجـیک جزیـره کې حمد بن عیـسی الـخلـیفـه

د بحرین جزیره د دوه غټو سیمه یـیزو سیالانو(ایران او سعودي عربستان) په منځ کی پرته ده. په بحرین کی پاڅون د ۲۰۱۱ د فبروری په یولسمه پیل شو. د ۲۰۱۱ د مارچ په ۱۴ نیټه د سعودی عربستان پوځ په بحرین ورننوت چی د پاڅون والانو د پرمختګ مخه ونیسي. شیعه ګان په بحرین کی اکثریت جوړوي خو واکمني د سني پاچا حمد بن عیسی الخلیفه په لاس کی ده. که شیعه پاڅون والان پاچا الخلیفه سازش ته اړکړي، د هغوی دغه بری به په سعودي عربستا ن کی هم شیعه اقلیت دیته وهڅوي چی چی د خپلو حقوقو د ګټلو لپاره راپاڅیږي. په دغه حالت کی به نسبتا کمزوری سعودي عربستان د بلقوه غښتلي ایران د بلنې(چلنج) سره مخامخ شي. هره ورځ د بحر له لارې د نړی د تیلو یوه غټه برخه (۴۰٪) د هور موزله تنګې نه تیریږي. اوس ایـران د هـورموز د تنګې په یوه خوا کی پروت دی او په بحرین کی د امریکې پنځمه بحری قوه پرته ده. څه به پیښ شي که چـیرې ایـران د هـورموز د تنـګې په دواړو خـواو کې د کنترول خاوند شي؟! دا هغه پوښتنه ده چې د امریکې د امپراتور په کوپړی کې کـړس را پـیدا کـولی شي

د ۲۰۰۶ او ۲۰۱۱زییز په منځ کی امریکی هرکال بحرین ته له پنځه ملیون نه نیولې تر اتلس ملیون ډالرو پورې مرسته ور کوله، خو ټوله مرسته د بحرین په امنیتي قواو و لګید له . یانی هلته په غیرعسکري پروګرامونو باندی (لکه د بشر د حقوقو او د ولسواکی د پرمختیا په ساحو کی) یو ه ټنګه هم مصرف نه شوه! امریکایي کرنیل کیستافر نادلر د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۱ زییز په منځ کی د افغانستان په هلمند ولایت کی کوماندان و او اوس په واشنګټن کی په بروکینګ موسسه کی څیرنه کوي. هغه په تازه را ټوکیدلو ولسواکیو کی د امریکی رول د څیرنی لاندی نیولی دی. د نادلر د څیرنی له مخې: په بحرین کی دا مریکی د مرستي هر ډالر په امنیتي سکټور لګیدلی و، نه په کوم بل غیر عسکری پروګرام. له نادلـر نه واورئ

This is one that caught me by surprise," Christopher Nadler continues that "This " Military .U.S Crisis: Is Bahrain" :goes to the integrity of the aid." Quoted in

.(National Defense , March 16, 2011("?Assistance Hindering Democracy

دلته وینو چی امریکا له یوی خوا د دموکراسی نغاره ډنګوي اوله بلې خوا یی په بحرین کی مالی مرسته د ټولواک (مستبد)رژیم په هغه امنیتی سکټور لګیږي چی د بی تاوه پاڅون په ضد بیرحمه عکس العمل ښئ. که له یوې خوا په لیبیا کی په سلطاني ولسمشر قذافی باندې د ناټو د بمباریو رحمت وریږي او د افغانستان په شان ماشومان او ملکي انسانان د اور په په لمبو کی وریتوي،نو له بلې خو ا د بحرین او یمن مشران له ورته عکس العمل نه لا تر اوسه محروم ساتل شوي دي ځکه چی د استثنایي امریکې نازولي دي. امریکه باید یو نارمل(نُرمال) هیواد شي

سـوریـه: الله، سـوریه، ازادي او په باطن کې د عذابونو میلمستون

!"Freedom ,Syria ,God"

په سوریه کی د حافظ اسد ولسمشري ډیر زر په سلطانی ولسمشری واوښتله ا و ټولټال یی نږدې دیرش کاله دوام وکـړ(۱۹۷۱ فبروري تر جون ۲۰۰۰زیـیز). په ځای یې ځوی بشر اسد له یولسو کلونو راهیسی سلطاني ولسمشر شوی دی. د بشر اسد د رژیم په ضد بې تاوه پاڅـون د ۲۰۱۱زیـیز د جنوری په ۲۶ پـیل شو (لار یـونـونه، د لـوړي اعتصاب، او مدني نافرماني). د پاڅون د شد ت په اوږدو کې ځینې عسکر د پاڅون خوا ته واوښتل . نږدې اته نیم زره سوریایان ګاونډی ترکیې ته کډوال شوي دي. په فیسبوک او بهرنیو مطبوعاتو کلک بندیز لګیدلی دی، او له دې امله د سوریې خلکو یوتیوب ته مخ وراړولی دی. د ولس د پاڅون په اوږدو کې زما سترګې په دوه چـغو (شعارونو) کی ونښتلې: (۱) « وروسته له دې ویره نشتـه»،یاني :ما فی الخوف بعد الیـوم! مخکی له پاڅـون نه په سـوریه کی دا چغه مروجه وه: « الله، سوریه، بـشر». خو د

پاخـــون په اوړدو کی دغــه شعار په دې شــکل واوښــت: « الله، سوريه، ازادي» ، ياني :ګاډ، سوريه، فريـډم. واشنــګـتن په څرګــند ډول ټولواک (مستبد) رژيمونه غندي، خو په پټ ډول د هغوی له خدمت نه ډډه نه کوي. ښه مثال يی د سوريايــی- کاناډايي تبعه ماهر ارار دردوونکي پيښه ده: ماهر ارار انجنير، واده او پلار دی او الوتکه يی له تونيس نه د نيويار ک په بين المللی هـوايـي ډګر کي تم کيـږ ي چی په بله الوتکه کی خپل هيواد کاناډا ته ستون شي. په ماهر ارار باندې د امريکی پوليس تور لګوي چی د القاعدی سره اړيکی لري او وروسته له ۱۲ ورځو يی د اردن له لاری سوريې ته تسليموي. ارار د دمشق په بنديخانه کی د عذابونو ميلمه کيـږي او هلته ۳۷۴ ورځې بندي ساتل کيـږی. ماهرارار د کاناډا هيوادوال(تبعه) و ، او بايد کاناډا ته د زيات تـحـقيق لپاره استول شوی وای . خو امريکې نومونړی د عذابونو لپاره سوريــې ته تسلـيم کړ. کـاناډا د خپل غـفلت له امـله خـپل تبـعه انجنير ماهــر ارار ته يولس نــيم مليون ډالـری ورکــړ ی. وګورئ

Anderson Cooper 360" CNN program, profiles torture survivor Maher Arar/2007. " Also, read these books: Jimmy Carter, Our Endangered Values (2005); Kerry Pither, Dark Days: The Story of Four Canadians Tortured in the Name of Fighting Terror. Foreword by Maher Arar (2008); Amy and David Goodman, Static: Government Liars, Media Cheerleaders, and the People Who Fight Back (2006). In his book (The Absolute Violation: Why Torture Must Be Prohibited [2008]), Richard Matthews, a professor of Philosophy, challenges the idea that torture is .ever acceptable

په داسی حال کی چی ټولټال انګريزی او امريکايی غټو ازادو مطبوعاتو په سوريه کی د بشر اسد او په لـيـبيا کی د معمر قذافـي په ضد ډيـډورو باندې خپل کومي شلول، د اسرايـيللي اشغال په ضد د فلسطينيانود بی تاوه پاڅون په يوه مهمه څنـډه يی د روان کال د می په نيمايی کی سترګی پټی کړي

د فلسطين او اسرايـيلو پـسرلی

« نکبه » په عربي کی فاجعی ته وایی، او په دی ډول «یوم النکبه» د فاجعې ورځې ته ویل کیږي. د ۱۹۴۸ زییز د می په ۱۵ د لویدیز په مټ د اسرایـیلو دولت د مهمی لودیزې اډې په شکل خلـق شـو. دغـه نیتـه کـه د اسـرایـیلو لـپاره د نیکـبختـۍ ورځ ده، په عـین حال کی د فلسطیـنیانو لپـاره د بـدبختـی (د فـاجعې)ورځ ده. د اسرایـیلو د دولت په خلق کولو سره ، فلسطینیان له خپل هیواد نه وشړل شول او لبنان، سوریې او اردن ته کډوال شول. د ۲۰۱۱ زییز د می په ۱۵ فلسطینیانو د خپلې بدبختۍ دغه ورځ په احتجاجونو ونمانځله، په دی ډول چی د سوریی،ارد ن، لـبنان او غـزا پـه پولـو کی یی د ا سرایـیلو د اشـغال په ضد احـتجاجـونه پـیل کـــړل . اسرایـیلي عسکرو پرې ډزې وکړې او ۱۴ تنه یی ووژل

.U.S.A ,hosted by Amy Godman Pacifica Democracy Now!" radio program at"
.(May 17, 2011)

له ښایسته اوږدې مودې راهیسې امریکایی تبصره کوونکو په هغه تاوتریخوالي خپلې اوښکې توی کړې دي چی فلسطینیانو د خپلې مشروعې خپلواکۍ د ګټلو لپاره کارولی و. د دغو امریکایانو استدلال په دې ادعا را څرخیده چی که فلسطینیان یواځی او یواځی د مهاتـما ګانـدي په بې تاوه پاڅون بسنه وکړي، اسراییل به پرې د دولت پـیرزویـنه

وکـړي. داسې بریښي چی نن سبا د امریکایی مبصرانو د حقیقت موقع رارسیدونکې ده: د تیرې نکبې (فاجعې) ورځ (۱۵ می ۲۰۱۱) نړی والوته په ډاګـه کـړه چی بې وسلې فلسـطینیان د «یهودي دولت» د پـولو په خـــوا ور و خوځـیدل. اوس امریـکایـان د دې فرصت لـري چی د دغـه بې تـاوه پاڅـون په اکـله کوم عـکس العمل وښـئ. امریکایانو به فلسطینیان دیته رابلل چی خپلې وسلې دې کیـږدي. « موږ به ورته ویل چی د هغوی د دولت نشتوالی پخپله د هغوی ګناه ده. څه شی به د امریکایانو سرونه په دې خلاص کړي چې «واقعا» د امریکایي تورپوټکو د مدني حقوقو د خوځښت د مشر ډاکټر مارتین لوتر کینګ «په سبک برابر فلسطیني احتجاجچیان رارسید لی دی او اسرایـیلي عسکر پرې د واقعي کـالـتوسو ډزې کـوي؟»! یانې

What will it take to make Americans recognize that the real Martin Luther King-"
style non-violent protestors have arrived, and that the Israeli soldiers are shooting
Here Comes Your Non-violent Resistance", :Israel" ,.them with real bullets." (M.S

.(Economist, May 17, 2011**

تیرکال «د ازادئ فلوتیلا» په نوم د بـیړیو جوپه د غزا پټي خوا ته روانه وه چی هلته محاصره شوو فلسطینیانو ته لس زره ټنه غیر عسکري یاني بشري مرستی ورسوي. خو د اسراییلي قواو د قهرجـن او وژونکي بریـد (۳۱ می ۲۰۱۰) په واسطه دغه نیک اقدام شـنډ شو: نهه تنه فعالان یی ووژل او نور ټولټال ۷۰۰ تنه فعالان او ژورنالستان یې توقیف کړل . د اسرا یـیلو دغـو نـاوړه عـملیاتو فـلسطـینیانو ته یوه غـټه ګـټه ورسـولـه : نړی والو هغه کلکه اسرایـیلي محاصره په خپلو سترګو ولیدله چی د غزا بحران یی له هغوی نه پټ ســاتــلی و. کــه اسرایـیلو د ۱۹۶۷ زییز لـه بریالي جنګ راهیسي خپل سیاسي تصویر د نړی والو په سترګو کې غښتلی ساتلی و، په فلوتیلا باندې د اسراییلو ناوړه برید د دغه دولت تیر ۴۳ کلن برم رانسکور کړ. د ګولډ ستون رپورټ د دغي دورې د جـــرم غوڅه چـغـــه ده

Gaza The Goldstone Report: The Legacy of the Landmark Investigation of the Conflict. Edited by American-Jewish journalists Adam Horowitz, Liz Ratner and Philip Weiss. Naomi Klein (Introduction) and Archbishop Destmond Tutu (Foreword), 2011

کله چی اسراییلی عسکر په بین المللي اوبو کې د فلوتیلا بیړیو ته په زور سره ورننوتل، د هغوی لپاره تر هر څه فوري موضوع دا وه چی د صحنې قصه ځندئ کړي: ټولی کمرې ضبط کړي، ساتیلایتونه وتړي، د ټلویژن کمرې ماتې کــړي او په دې ډول ځانونه ډاډه کړي چې هیڅ ډول خبر به بهر ته نشي تیرید لی

They were hellbent on controlling the story", commented Australian journalist " Paul McGreough, one of the hundreds of activists and reporters who witnessed the deadly morning attack on the Gaza Freedom Flotilla" on May 31, 2010 ("Framing the Narrative: Israeli Commandos Seize Videotape and Equipment from Journalists hosted by Amy Radio program Pacifica / !After Deadly Raid." Democracy Now .(Godman (June 9, 2010

د فلسطین په لویدیزه غاړه (ویسټ بینک) کی د حمس پارلمانی غړی عزیز دویک په فلوتیلا

باندی د اسراییلی کوماندو له حملی نه یو څه وروسته یوې مهمې زدکړې ته گوته نیولې وه:
«زموږ تاوتریخوالي(تشد د) د اسرایـیلو سره مرسته کوي چی بین المللي ملاتړ وګټـي»، او دغه
شان عزیز دویک زیاتوي چی: « لس زرو توغندیوغزا ته هغومره ګټه نه ده رسولې لکه د غزا [
د ازادئ] فلوتیلا چې رسولې ده». د اقتباس لپاره ولولئ :ولستریت ژورنال،۲جولای ۲۰۱۰

win international support", Hamas Israel When we use violence, we help"
Flotilla did more than 10,000 Gaza parliamentarian Aziz Dweik continues: "The
s Foes Embrace New Resistance Tactics."(Wall Street Journal, 'Israel")".rockets
(July 2, 2010

دا معلوات چی د فلسطینی غزا پټې په لوري د رواني امریکایی بـیړی د ټولو مسافرانو ۲۵
سلنې(٪۲۵) به یهودان وي، خاص اهمیت لري: (۱) کیدای شی چی اسراییلی واکمنان به یو څه
وجداني نارامي احساس کړي چی څنګه به په یهود شموله بې دفاع بیړئ باندي وسله وال برید
وکړي؛ (۲) کیدای شي چی دغه یهودشموله بیړی به په څـرګـند ډول دهغه یـهـودی هویت
ســازئ په ضــد تعـبیر شي چی په واقعیت کی فلـسطیني ازادئ ته پــاټــک اچــوي؛(۳) کیدای
شي چی دغه یـهودشــموله بـیړئ به یوې بلې یـهودي کیسې ته د خلکو پام راواړوي چې په جهان
شمـوله بشري ازادئ راڅرخي؛ او (۴) دغه امریکایي- یهود شموله بـیړی به د امریکې د بهرنیو
چارو وزارت خپل دې مکلفیت ته متوجه کړي چی په بهر کی به د خپل دوست (یهودي دولت)په
مقابل کې هم د خپلو اتباعو (امریکایي- یهودانو) حفاظت کوي! په ۲۰۰۹ زییز کی د جئ سټریټ
د نظر پلټـنې له مخې درې ټکی د پام وړ دي: (۱) د امریکایي یهودانو شـپیته سلنې(٪۶۰) د
فلسطین په لویدیزه غاړه (ویسټ بینک) کی د اسرایـیلیانو د میشت ځایونو د توسعې سره مخالف
دي؛ (۲) ۷۶ سلنې یې د زییز کال ۱۹۶۷ د سولې د تړون د هغسې پولو سره موافقه ښئ چی
ځینې برخې به یکې د خبرواترو له لارې مبادله کید لی شي(دغسې دریځ ولسمشر بارک اوباما د
روان کال د می په ۱۹هم څر ګند کړی دی)؛ او (۳) نـهه شپیته سلنې(٪۶۹) یی د دې مــلاتــړ
کوي چی امــریکا دې د فتح-حـمـس د ګــډې فلسطیني اداري د حکومت ســره هــمکاری
وکــړي چې د اسرایــیلو سره سولې ته یې قــانع کــړي

Is a Quarter Jewish—'Not Too Shabby' ", Gaza Boat to .U.S" ,Robert Naiman

(Huffington Post (June 6, 2011

اوبا ما خپل دوست دې پوه کړه چی ...

Gaza Stay Away From Freedom Flotilla To Gaza!

ولسمشر بارک اوباما یوه میاشت وړاندی د زیارت په ورځ د ۲۰۱۱ د می په ۱۹ نړیٔ والو ته د منځني ختیز په اکله خپله وینا واوروله. د دغي وینا د او رید لو سره سـم ، یو سپـین ږیري عیسوي او بشردوست امــریکا یي (ری مکـګاورن) اوباما ته یو په زړه پوري ویـښوونکی لیک ورو لـیږه. مکګاورن په هغه ډله امریکایانو کی شامل دی چی « د امید زړ ورتیا»(اوداسیتي آف هوپ) نومی بیړی کی بشري مرستی د روان جون په وروستنیٔ اونی کي د غزه په پټه کي محاصره شوو فلسطینیانو ته رسول غواړي. په دغه ډله کي رابرت نایمن(د «عادلانه بهرني سیاست» د ســـازمان مشـــر) هم ټلګــري دی. د پلا ن له مخي به دغه بیړی د د روان کال د جون په ۲۱ د یونان پایتخت ته رسیږي ، هلته به دري ورځي پاتی کیږي ، او بیا به هلته له کوم ځای نه د غزا د پټي په لوري خوځیږي. اوباما ته د لیک لیکونکی ری مکګاورن، پخوا د ۲۷ کلونو لپاره د امریکي په مرکزیزي استخباراتو (سي آي أئ) کی مهم او معتمد تحلیلګر و(له ولسمشر کینیډ ی نه نیولې د ولسمشر جورج ایچ بوش پورې): دی هلته د ملی استخباراتو د اټکل د څانګي مشر و او ولسمر ته د استخباراتو د «ورځني لنډيز» (ډیلي بریفینګ) لیکونکی او وړونکی و. میکګاورن په خپل لیک(۱۹ می ۲۰۱۱) کی کاږي چی ذکر شوې امریکایي بیړیٔ د غزا په پټه کی میشتو فلسطینیانو ته بشري مرستې رسول غواړي. سبا (دجمعي په ورځ: ۲۰ می ۲۰۱۱) د اسراییلو لومړي وزیر بنجمین نتانیاهو په سپینه مانیٔ کی د ولسمشر اوباما سره و کتل. مکګاورن په خپل لیک کی له ولسمشر اوباما نه هیله کوی چی که د ملاقات په مهال نتنیاهو په غوږ ووهي چي غزا ته د بیړیٔ په تـیریـد لو کي دې لــه مـزاحمت نه ډډه وکـړي. دغه شان مکګاورن په اوباما ټینګار کوی چي د سیاست په ځای دی عدالت ته پاملرنه وکړي(پوټ جستیس اباو پالیټیکس) . اوبــاما تــه د مکګاورن لـیک د ۲۰۱۱ د می په شلـمه نـیـته

خپـور شـوی و، او ټول انګریزي متن یې د دې رسالې په پای کې مل شوی دی

پـــــــــــا ي

په اوسنيو ګړنديو برېښناييزو شرايطو کی د پاڅون پيغام د سترګې په رپ کې ولس ته رسيږي اوله دې امله پاڅون هم اسان دی او هم ارزان یاني کم خطـره دی. غـوره او تازه مثال يې استرالیایی ژورنالیسټ ، برېښنايـيزفعاليـتګر (اينټرنیټ اکټـیویسټ) او د ويکيليکس د وېبسايټ موسس ځلوېښت کلن جـولـيان سـانـژ دی چې د څرګندو یانی شفافوحکومتونو پلوی دی او په ۲۰۱۰ کې يې د امريکې له روانو جنګونو نـه ځېونی پورته کړ. د واشنګټن دېټو سیاسـتونو په دغــه غـټه رسـوايی کې يو ځوان امریکایی عسکر برادلی مانـینګ هـم د خـپل حکومت له خوا په دی تورن شوی او بندي شوی دی چی جولیان سانـژ ته يې د خپل هیواد مخفي لاسوندونه ورسپارلـي دي

نن د اسلامی نړۍ د وګړو نږدی دوه پر د رې برخې یاني نږدې ۶۷ سلنې هغه ډله جوړوي چې عمر يې له دیرش کالونو نه ټيټ دی. دغه ستره ځوانه طبقه ځواني هيلې او اړتياوې لري. په عرب نړۍ کې د وګړو نږ دې يوه لسمه برخه نالوستې ده او په دې ډول پاتی نوي سلنې وګړي يې ليک لوست کولی شي. د پوه ټولنې(نالیـج سـوسايـټي) په چاپيريال کې دغه ډول بدلون ځوان عرب نسل دې ته هڅوي چې نور خپل قسمت په زړو او زيـړو کاغذونو کی ونه لټوي، بلکې ځانونه د خپلې زماني سـيالان وګڼي، د خپلو ګوډاګيو سلطانانو او سلطاني ولسمشرانو بې کفايـتی پای ته ورسوې،او خپلې شتمنی د خپلو هيوادونو د خپلواکی او دخپلو ولسونو د نیکمرغی په لار کې ولګوي. لويديز په تيره امريکا غواړي چې ددغه ډول پاڅون په بهيرکې ټاکونکی رول ولوبوي. امپراتوره امريکه په هر څه کې او په هرځای کی ملي یانې امپراتورانه ګټې لري. که امريکا بنه څه ولري اونور خلک ورته اړ تيا ولري، د لاسته راوړلو لپاره يې دوه لارې شته: يوه لاره داده چې نور خلک به يې ورنه د وسلو په شان راونـيسي. خو که امريکه و نه غواړي چې خپل بنه څه خرڅ کړي، نو بيا به نورخلک مجبور وي چې د وهمه لار غوره کړي، او هــغه داده چــــې د ټکـــنالوجی په شــــان يـــــې ورنـــه غـــلا کـــــړي . امريکه بايد يو عادي یانی نارمل

هیوادشي او د بـم کـراسـۍ په ځای عـملا دموکـراسۍ ته درنای وکړي

بې تاوه پاڅون په ظاهر کی د غریب سړي وسله ده،خو په باطن کي په عـین حال کي د سالم وجداني شخصیت معنوي پیاوړتیا تـمـثیلوي. د غریب مهاتما ګاندي، دغـریب باچاخان فخر افغان، دغریب ډاکټرمارتین لوتر کینګ، د غریب مشر مُلا دیسـموند ټـو ټـو...او دغـریب نیلسن مـنـدیلا د هریوه ژوند د ټول بشریت لپاره له مهمو ګټورو پیښـو نه ډک و او دی، خو په ۲۰۰۹ زییز کال کی د امریکي متحدو ایالتونو شل تنه مارِه انسانان او دوه اوږده او ډک لګښـته جنګونه لرل چي لا تر اوسه د «غیـر انسان »(اَن- پیـپل) په وینو څربـیري، په ړنـدو بـمــباریـو شـخــوندوهي اوسالم وجدان کړوي. مسلمانان باید د خپلي زماني انسانان او مسلمانان شي. خـوشـال خـټـک بـابـا څـه ښـه ویـلـي دي

لکه باز په لوي لوي ښکا ر زما نظر دی

ګـونګی نه یمه چي نیـسم بـــاد خورکــي

ډاکـټر زیرک یار

Obama, Tell Netanyahu – Don’t Mess With Flotilla to Gaza!

By: Ray McGovern

May 19, 2011

:Dear Mr. President

earlier today emboldens me to Middle East Your speech on the claim your protection as we set out to put flesh on your rhetoric. Fifty of your fellow citizens will be sailing on

.in June Gaza "The Audacity of Hope" to

You spoke eloquently today about "times in the course of history when the actions of ordinary citizens spark movements for change because they speak to a longing for freedom that has been building up for years." And you lamented "failure to speak to the broader aspirations of ".ordinary people

We, the passengers and crew of "The Audacity of Hope," together with the 2nd International Freedom Gaza sailing to Flotilla, represent ordinary Americans determined to speak to the aspirations of the 1.5 million ordinary Gazans .yearning to be free

We will be delivering thousands of letters of support and friendship from other ordinary Americans who are persuaded, as Dr. King put it, that "injustice anywhere is a threat to ".justice everywhere

I write you for assurance of your support and protection as we try to embody your rhetoric. You emphasized that "the supports a set of universal rights," and that United States support is "not a secondary interest." It is, .U.S this rather, "a top priority that must be translated into ".concrete actions

though, ,Gaza Bold words. With respect to the situation in perhaps you will agree that it hardly suffices to bemoan the fate of one "Palestinian who lost three daughters to who, as you put it, has a "right to —"Gaza Israeli shells in ".feel angry

That Palestinian and his dead daughters are four. But Israeli forces killed 1,400 Gazans in December 1998-January 1999 — and 1.5 million Gazans remain deprived of the .universal rights of which you spoke

Gaza is a sequestered, crowded open-air prison, in which keeps "inmates" at a subsistence level of Israel existence. This amounts to the kind of collective punishment banned by international law and is enforced by .an equally illegal Israeli naval blockade

Many Americans have long been puzzled that you choose to exempt Gazans from your stated concern about universal rights; and, frankly, we have tired of waiting for a cogent explanation. So we ask you to look upon our voyage to Gaza as our attempt to implement your rhetoric about what ordinary citizens can do — not only to "speak," but also to act to meet the broader aspirations of the ordinary people .of Gaza

On May 20, you will have an opportunity to inform Israeli Prime Minister Benjamin Netanyahu of our intention to sail next month. You have probably already been briefed on Gaza to s far-flung diplomatic and propaganda offensive to 'Israel prevent our boat and the other boats of the international .Gaza flotilla from embarking for

Those Israelis determined to enforce their illegal blockade may feel emboldened by your lack of response to the killing of nine passengers — including an American citizen — on the 2010 relief flotilla and the wounding of dozens of other peaceful passengers. This is your chance to disabuse those

Israelis of the notion they can attack unarmed civilians with impunity. This year we expect you to speak up for us .beforehand

And please do not try to pretend that $3 billion of our cannot be translated into — Israel taxes – our annual gift to the kind of leverage that will spare "The Audacity of Hope" ".from harm at the hands of the "Israeli Defense Forces

Finally, allow me to suggest talking points not likely to be included in your briefing papers. These points transcend rhetoric and spring from a faith heritage you share with Netanyahu. They deal with the doing of justice – the preoccupation of the prophets of the Judeo-Christian .tradition

Before meeting with Netanyahu, have a look at what Isaiah says about "proclaiming liberty to captives and release to repeats that, word for Nazareth prisoners" and how Jesus of word, eight centuries later. Please give that some serious .thought, and be prepared to put justice above politics

And please let us - and the world - know how the discussion .goes

Yours truly, Ray McGovern